**أنس بن مالك الأنصاري**

(اې الله! ده ته مال او اولاد ورکړې او برکت ورله پکې واچوې)

[نوموړي ته د رسول الله (ﷺ) دعا]

انس بن مالک ګلالی ماشوم وو چې مور یې ورته د شهادت کلمه زده کړې وه، او زړه یې ورته د اسلام د ستر پیغمبر محمد (ﷺ) په مینه ډک کړې وو.

په اورید اوریدو د اسلام د ستر پیغمبر سره د انس مینه پیدا شوې وه، ځکه چې کله غوږونه د سترګو څخه مخکې عاشقان کیږي.

دغه هلک ډیر لیواله وو چې «مکې مکرمې» ته د خپل پیغمبر خوا ته ورشي او یا دغه ستر شخصیت د دوي ښار «یثرب» ته راشي چې په لیدو یې خوښ او له کتلو یې خوند واخلي.

ډیر وخت به لا نه وو تیر شوی چې په یثرب کې ګونګوسې شوې چې د اسلام ستر پیغمبر او د هغه ملګری ابوبکر صدیق د دوي طرف ته په لاره دي، نو په هر کور کې تازګي او په هر زړه کې خوشحالي پیدا شوه.

سترګې او زړونه په هغه بختوره لاره ونختل په کومه چې د الله پیغمبر او د هغه ملګري د «یثرب» په لوري خپل قدمونه ایخودل، دهر سهار په راتلو به هلکانو آوازونه پورته کول چې: محمد (ﷺ) راغی، نو انس به هم د یثرب د نورو کوچنیانو سره د هغه په لور منډې وهلې خو په نه لیدو به خفه او غمجن راستون شو.

یو ډیر ښائسته او تازه سهار وو چې په «یثرب» کې خلکو چیغې کړې چې: محمد (ﷺ) او د هغه ملګری ښار ته نژدې شوي دي.

سړو هغه لار ته مخه کړه په کومه چې د هدایت او خیر پیغمبر د دوي طرف ته راروان و، او ډلې ډلې د یو بل څخه مخکې کیدل او په منځ کې یې د مرغو په څیر ښکلې کوچنیان ټولګې ټولګي د مینې او محبت څخه په ډکو زړونو او خوشحاله مخونو منډې وهلې، چې انس یې په لومړیو کسانو کې وو.

د الله ستر پیغمبر او د هغه ملګری راورسیدل او د لویانو او کوچنیانو د لویې ډلې په منځ کې روان شول.

ښځې او جونې د کورنو سرونو ته ختلې وې او د لیرې څخه یې رسول الله (ﷺ) ځاره او یو بل ته یې ویل:

هغه کوم یو دی، هغه کوم یو دی؟

دا یوه ډیره ستره ورځ وه، چې انس بن مالک به یې د خپل عمر په څه دپاسه سل کاله کې یادونه کوله.

د الله ستر پیغمبر (ﷺ) لا په سمه توګه په مدینه کې میشت شوی نه وو چې د انس مور «غمیصاء بنت ملحان» د خپل کوچني ځوي سره چې مخکې یې ترې منډې وهلې او ویښتان یې په تندې خوزیدل، هغه مبارک ته راغله، او د سلام څخه وروسته یې ورته وویل:

ای د الله پیغمبره! د انصارو هر سړي او ښځې تا ته یو څه ډالۍ کړل، خو زه د خپل دې ځوی پرته نور څه نه لرم، دا واخله، تر څو ستا هر راز خدمت وکړي.

نبي (علیه السلام) د ماشوم په لیدو ډیر خوښ شو، په سر یې ورته لاس کش کړ، او په مبارکو ګوتو یې د هغه ویښتان ونیول او د خپلې کورنۍ سره یې یوځای کړ.

انس چې د میني نه به ورته د کور خلکو انیس هم ویلو، لس کلن وو چې د نبي (علیه السلام) د خدمت ویاړ ورپه برخه شو، او د نبي (علیه السلام) تر وفاته پورې د هغه مبارک په خوا کې د روزنې او څارنې د لاندې وو.

پوره لس کاله یې د هغه مبارک سره ملګرتوب وکړ، خپل زړه یې د هغه په لارښوونو خړوب کړ، سینه یې د هغه له حدیثو ډکه کړه، او د نبي (علیه السلام) هغه حالات، اخلاق، چال چلند او رازونه یې وپیژندل چې دده پرته نور چا نه پیژندل.

انس (رضي الله عنه) د نبي (علیه السلام) د داسې چلند سره مخ شو چې هیڅ یو ځوي به د خپل پلار د داسې چلند سره نه وي مخ شوی، او د هغه مبارک د هغه سترو اخلاقو او لویو ځانګړتیاؤ خوند یې وڅکه چې ټوله دنیا ورته پسخیږي.

نور به انس پریږدو چې د ده سره د نبي (علیه السلام) د چلند او رفتار یو څو روښانه انځورونه په خپله ژبه بیان کړي.

أنس بن مالك (رضي الله عنه) وایي :

د الله ستر پیغمبر د ټولو خلکو څخه زیات د ښو اخلاقو، د فراخه سینې او ډیرې مینې څښتن وو، زه یې یوه ورځ د کوم کار لپاره ولیږم، زه د هغه لخوا څخه ووتم او د کار د ترسره کولو پر ځای مې په بازار کې د کوچنیانو سره د لوبو اراده وکړه، کله چې زه د هغوي خوا ته ورسیدم نو پوهه شوم چې شا ته مې څوک ولاړ دې او کالې یې راته کش کړل، ومې کتل چې رسول الله (ﷺ) ولاړ دی، په مسکا یې راته وویل:

«انیسه! چیرې چې مې درته د تللو ویلي وو، هلته تللی وې؟».

لږ وشرمیدم او ومې ویل: هو اي د الله رسوله اوس ځم.

په الله قسم چې ما د رسول الله (ﷺ) لس کال خدمت کړی دی، خو چې کوم کار مې کړی دا یې نه دي ویلي چې ولې دې کړی، او که مې نه وو کړی نو نه یې دي ویلي چې ولې دې نه دی کړی.

نبي (علیه السلام) به له مینې او نازه هغه ته کله انیس او کله بچوړی وایه، او هغه ته به یې هر وخت ګټور نصیحتونه کول چې څه یې په لاندې ډول دي:

(بچوړیه! که توان دې وي چې په داسې حال کې سهار او بیګا کړې چې په زړه کې دې چاته کینه نه وي نو دا کار وکړه، بچوړیه! دا زما طریقه ده، او څوک چې زما طریقه ژوندۍ کوي نو هغه زما سره مینه لري، او څوک چې زما سره مینه لري هغه به زما سره په جنت کې وي).

(اي بچوړیه! کله چې خپل کورته ورځې نو سلام کوه، دا به ستا او ستا د کورنۍ لپاره د برکت وسیله وي).

انس بن مالک د نبي (علیه السلام) د وفات څخه وروسته څه دپاسه اتیا کاله ژوند وکړ، چې په هغې کې یې د صحابه کرامو او تابعینو تر منځ د نبي (علیه السلام) د لارښوونو، ویناؤو او اعمالو د خورولو په وسیله، د نبي (علیه السلام) د علم څخه ډیرې سینې ډکې، ډیر عقلونه خړوب، او ډیر زړونه یې پرې ژوندي کړل.

انس (رضي الله عنه) د خپل عمر په ټوله موده کې د مسلمانانو د باور ځاي وو، چې په ستونزمنو کارونو کې به یې د هغه څخه لارښوونې ترلاسه کولی او په سختو مسئلو کې به یې د هغه په پوهه اعتماد کولو.

یو وخت په دین کې د بحث کوونکو یوې ډلې د قیامت په ورځ د نبي (علیه السلام) د حوض په اړه خبرې کولې، نو دده څخه یې پوښتنه وکړه، أنس (رضي الله عنه) ورته وویل:

«ما فکر نه کاوه چې زه به داسې وخت ته پاتې شم چې ستاسو په څیر خلک به د حوض په اړه بحثونه کوي، ما خو شا ته داسې زړې ښځې پریخودې چې د هر لمونځ وروسته د الله څخه دعا کوي چې د نبي (علیه السلام) د حوض څخه پرې اوبه وڅښوي».

أنس بن مالک ټول ژوند د نبي (علیه السلام) په یاد کې تیر کړ، د لیدلو د ورځې په یاد به یې خوشحالیده او د بیلتون د ورځې په یاد به یې له سترګو اوښکې بهیدې.

د نبي (علیه السلام) ویناوې به یې ډیرې تکرارولې، په وینا او عمل کې د هغه پیروۍ ته لیواله وو، څه چې د هغه مبارک خوښ وو، ده به خوښول، او څه چې د هغه بد راتلل، ده هم ورڅخه کرکه لرله، او د خپل ژوند دوه ورځې به یې ډیرې یادولې:

یوه د نبي (علیه السلام) د لیدلو ورځ او بله د هغه څخه د بیلتون ورځ، کله به یې چې اوله ورځ یاده کړه خوشحاله به شو، او کله به چې دوهمه ورځ ورپه زړه شوه ډیر به خفه شو او وبه یې ژړل، او څوک چې به ورسره وو هغوي به یې هم وژړول.

دا خبره به یې ډیره کوله چې ما مدینې ته د راتلو په ورځ هم نبي (علیه السلام) ولید، او په هغه ورځ هم چې رانه رخصت شو، بیا ما ددغه دواړو په څیر ورځې ونه لیدلې، مدینې ته یې د راتلو په ورځ هر څه روښانه، او د خپل رب خوا ته یې د تللو په ورځ هر څه تیاره شول.

ما هغه د دوشنبې په ورځ د اخرې ځل لپاره ولید چې له کوټې څخه یې پرده پورته شوه، نو مخ یې داسې ښکاره شو لکه د کتاب پاڼه، په دغه ورځ خلک د ابوبکر صدیق شاته ولاړ وو چې د نبي (علیه السلام) په ښکاره کیدو وخوریدل، ابو بکر (رضي الله عنه) ورته وویل: ودریږئ.

بیا ددغه ورځ په اخرۍ برخه کې نبي (علیه السلام) له دنیا سترګې پټې کړې، مونږ د هغه منظر څخه ډیر حیرانوونکی منظر هیڅ کله هم ونه لید کله چې مونږ په خاورو کې د پټولو په وخت کې د هغه مخ ته کتل.

نبي (علیه السلام) څو واري أنس بن مالک ته دعا کړې ده، چې دا دعا هم په کې وه:

**«اي الله! ده ته مال او اولاد ورکړې او برکت ورله پکې واچوي».**

الله تعالى دده په حق کې د نبي (عليه السلام) دعا قبوله کړه، هغه په انصارو کې تر ټولو د ډير مال او اولاد څښتن وو، تر دې چې په خپل ژوند کې يې د سلو څخه ډير زامن او لمسيان په خپلو سترګو وليدل.

الله تعالى د هغه په عمر کې دومره برکت واچوو چې درې دپاسه سل کال ژوند يې وکړ.

د أنس (رضي الله عنه) تر ټولو ستره هيله په قيامت کې د نبي (عليه السلام) شفاعت وو، نو ځکه ډير به يې ويل چې:

زه هيله لرم چې د قيامت په ورځ د رسول الله (ﷺ) سره مخ شم، او ورته ووايم: اى د الله پيغمبره! دا ستا خادم أنيس دى.

کله چې أنس (رضي الله عنه) د مرګ په مرض اخته شو، نو د کورنۍ غړو ته يې وويل:

ما ته (لاإله إلا الله محمد رسول الله) ووايئ، او بيا يې تر مرګه دغه کلمه ويله.

وصيت يې وکړ چې د رسول الله (ﷺ) امسا ورسره په قبر کې کيخودل شي، نو ورسره کيخودل شوه.

خوښي دې وي دده لپاره د هغه نعمتونو له امله چې الله تعالى پرې کړي وو، پوره لس کاله يې د رسول الله (ﷺ) په څنګ کې تير کړل، د رسول الله (ﷺ) د حديثو په روايت کې دريم مقام لري، چې لومړى يې ابو هريره او دوهم يې عبد الله بن عمر درلود.

الله تعالى دې ده او دده مور غميصاء ته غوره بدله ورکړي، آمين.

**سعيد بن عامر الجمحي**

" سعيد بن عامر يو داسې سړی ؤ چې د دنيا په مقابل کې يې آخرت، اود بل هر شي په مقابل کې يې الله او دهغه رسول غوره کړ"

[ تاريخ پوهان ]

سعيد بن عامر جمحي په هغه زرګونو خلکو کې و چې د قريشو د مشرانو په بلنه د مکې مکرمې څخه بهر د تنعيم منطقې ته د دې لپاره وتلی وو تر څو د نبي کريم (ﷺ) د يو تن صحابي «خبيب بن عدي» وژل ووينې، چې هغوي په دوکه سره نيولی وو.

سعيد په خپلې ځوانۍ او توان سره وکولای شول چې نور خلک شا ته پريږدي او ځان د ابو سفيان بن حرب او صفوان بن اميه په څير د نورو هغه مشرانو په قطار کې ودروي چې د نورو خلکو په سر کې روان وو.

مخکې تک هغه ته دا فرصت برابر کړ چې د قريشو لخوا په زولنو تړل شوی بندي په خپلو سترګو وګوري، ځکه چې هغه د ښځو، کوچنيانو او ځوانانو په ټيل وهلو ټيل وهلو د خبيب د مرګ ميدان ته ورورړل شو، تر څو د خبيب په وژلو د محمد (ﷺ) څخه د بدر د وژل شو قريشو بدله واخلي.

کله چې دغه لويه ډله خلک د خپل بندي سره يوځای د هغه د وژل کيدو ټاکل شوي ځای ته ورسيدل نو سعيد بن عامر په خپله اوچته تنه خبيب ته په داسې حال کې کتل چې د اعدام لرګي ته راوستل کيدو، عامر د ښځو او کوچنيانو د چيغو په منځ کې د هغه څخه په ټيټ آواز دا خبره واوريده چې:

«که خوښه مو وي د مرګ څخه مخکې به يو دوه رکعته لمونځ ادا کړم»، هغوي ورته اجازه ورکړه.

سعيد کتل چې خبيب قبلې ته مخ کړ او په ډير ښه او پوره شکل سره يې دوه رکعته لمونځ وکړ، بيا يې وليدل چې هغه د قريشو مشرانو ته مخ کړ او ورته يې وويل:

« په الله مې دې قسم وي که ستاسو دا ګمان نه کيدی چې زه د مرګ له ويرې لمونځ کووم نو ما به نور لمونځ هم کړی وی».

بيا يې خپل خلک وليدل چې په ژوندني د خبيب د بدن څخه غوښې پريکوي او ورته وايي چې:

«ستا خوښه ده چې ته پريښودل شي او ستا پر ځای محمد (ﷺ) راوستل شي».

د هغه څخه وينې روانې وي او ويل يې:

«په الله قسم! زه دا نه خوښوم چې په آرام دې د خپلې ښځې او بچو سره ناست يم او د محمد (ﷺ) په خپه کې دې ازغی هم لاړ شي».

په دې وينا سره به خلکو خپل لاسونه خورول او چيغې به يې وهلې چې: «مړ يې کړئ، مړ يې کړئ».

بیا سعید خبیب ولید چې د اعدام د لرګي د پاسه یې خپلې سترګې اسمان ته نیولې او وایې چې:

«اي الله! د یو یو څخه بدله واخلې، ټول مړه کړې، او یو ترې هم پرینږدې».

بیا یې اخرنۍ سلګۍ په داسې حال کې وویستې چې په بدن یې د تورو او نیزو بې شماره زخمونه جوړ شوي وو.

قریش مکې ته راوګرځیدل او د نورو لویو مسئلو له امله یې خبیب او دهغه وژنه هیره کړه، خو د ځوان سعید د زړه څخه یوه لحظه هم خبیب هیر نه شو، کله چې به ویده شو نو په خوب کې به یې لیدو، چې ویښ به وو نو په خیالونو کې به یې ګرځیدو، په داسې حال کې به ورمخې ته شو چې هغه به د اعدام د لرګي مخې ته په آرام او اطمینان سره دوه رکعته لمونځ کولو، کله به یې قریشو ته د خبیب د خیراؤ آواز تر غوږو شو، نو وبه ویریدو چې هسې نه کومه اسماني چیغه پرې وشي یا پرې له پورته څخه تیږه راپرینه وځي.

له دې پرته خبیب سعید ته هغه څه زده کړل چې مخکې یې نه پیژندل.

هغه ته یې وښودل چې حقیقي ژوند عقیده، او د مرګه پورې د عقیدې په لار کې جهاد کول دي.

هغه ته یې دا هم وښودل چې پیاوړی ایمان نا آشنا کارونه کوي او معجزې جوړوي.

یوه بله خبره یې دا ورزده کړه، چې د کوم شخص سره چې یې ملګري داسې مینه کوي نو هغه پیغمبر دی چې آسماني همکاري ورسره کیږي.

په دغه وخت کې د سعید بن عامر سینه د اسلام منلو ته پرانیستل شوه، او د خلکو په یوه ډله کې پورته شو او د قریشو د ګناهونو او ظلمونو څخه یې خپله بیزاري، د هغوي د بتانو او خدایانو څخه یې لاس اخیستل او د الله تعالی په دین کې یې خپل ننوتل اعلان کړل.

سعید مدینې منورې ته هجرت وکړ، او د اسلام د ستر پیغمبر (ﷺ) سره یوځای شو، او د هغه سره د خیبر غزا او تر هغې وروسته ټولو غزاګانو ته حاضر شو.

خو کله چې نبي (علیه السلام) د خپل رب خوا ته په خوښۍ لاړ، نو د هغې وروسته سعید د نبي (علیه السلام) د دوه ځای ناستو ابوبکر صدیق او عمر فاروق په ملګرتوب کې داسې وو لکه وتلې توره، او خپل ژوند یې د هغه مؤمن په څیر تیر کړ، چې د دنیا په مقابل کې یې آخرت اخیستی وي او د خپلو ټولو نفسي غوښتنو، او بدني خواهشاتو په مقابل کې یې د الله رضا او د هغه ثواب غوره کړی وي.

د نبي (علیه السلام) دواړه ځاي ناستو ته د سعید بن عامر ریشتیا او تقوا معلومه وه، او د هغه نصیحت ته به یې غوږ نیولو، او د هغه خبرې به یې په غور سره اوریدې.

د عمر (رضي الله عنه) د خلافت په لومړي سر کې د هغه خوا ته ورغې او ورته یې وویل:

«اي عمره! زه تا ته نصیحت کووم چې د خلکو په هکله د الله څخه وویریږه، او د خلکو څخه د الله په هکله ویره مه کوه، ستا د وینا او عمل تر منځ باید توپیر نه وي، ځکه چې غوره وینا هغه ده چې عمل یې ریښتینولي وکړي.

اي عمره! خپل مخ هغه چا ته وګرزوه چې الله تعالی ته د هغوي واکمن کړی يې، هغه نږدې مسلمانان دي او که ليرې، او د هغوي لپاره هغه څه خوښوه چې ته يې د ځان او خپلې کورنۍ لپاره خوښوې، او د هغوي لپاره هغه څه مه خوښوه چې ته يې د ځان او خپلې کورنۍ لپاره نه خوښوې، د حق لپاره سختې تيره کړه، او د الله په هکله د چا له ملامتيا څخه مه ويريږه.

عمر (رضي الله عنه) ورته په جواب کې وويل: سعيده! دا کار به څوک وکړي؟

سعيد ورته وويل: ستا په شان سړی دا کار کولای شي، چې الله تعالی ورته د محمد (ﷺ) د امت واکمني ورکړې ده، او د هغه او د الله تر منځ بل څوک نشته.

په دغه وخت کې عمر (رضي الله عنه) د سعيد څخه د همکارۍ غوښتنه وکړه، او ورته يې وويل:

سعيده! زه تا د «حمص» والي جوړوم. سعيد ورته وويل:

په الله قسم در کووم چې ما په ازمائښت کې مه اچوه.

عمر (رضي الله عنه) ورته په قهر وويل: خوار شئ، زما په اوږو مو مسئوليت بار کړ، او اوس رانه تښتئ! په الله قسم چې نه دې پرېږدم، او بيا يې د «حمص» والي کړ او ورته يې وويل: معاش درله مقرر نه کړو؟

هغه ورته وويل: په معاش څه کووم، څه چې ما ته د بيت المال څخه راکول کيږي هغه زما د اړتيا څخه ډير دي او بيا «حمص» ته روان شو.

لږ وخت وروسته د «حمص» يو څو باوري کسان د امير المؤمنين خوا ته راغلل، هغه ورته وويل: ما ته د «حمص» د غريبانو لست راکړئ چې د اړتياؤو په پوره کولو کې ورسره مرسته وکړم.

هغوي لست ورکړل: فلاني، فلاني او سعيد بن عامر.

عمر پوښتنه وکړه: کوم سعيد بن عامر؟

هغوي وويل: زمونږ والي.

عمر وويل: ستاسو والي غريب دی؟

هغوي وويل: بلې، په الله قسم څو ورځې تيرې شي او د هغه په کور کې اور بل نه شي.

عمر ددې خبرې په اوريدو دومره وژړل چې ږيره يې لنده شوه، او بيا يې زر اشرفۍ په يوه کڅوړه (هميانۍ) کې واچولې، او خلکو ته يې وويل: سعيد ته د سلام څخه وروسته ووايئ چې: دا درته امير المؤمنين ددې لپاره راليږلي چې خپلې اړتيا پرې پوره کړې.

کله چې خلکو سعيد ته د اشرفيو کڅوړه ورکړه او ورته يې وکتل چې اشرفۍ دي نو له ځان څخه يې ليرې کړې او وي ويل: «إنا لله وإنا إليه راجعون»، لکه چې کوم مصيبت ورته رسيدلی وي، ښځه يې په ويره را پاڅيده او ورته يې وويل: سعيده! ولې، اميرالمؤمنين وفات شو؟

هغه ورته وويل: نه! بلکه ددې څخه هم لوي مصيبت دی، هغې ورته وويل: مسلمانانو ته په کومه غزا کې مرګ ژوبله رسيدلی؟، هغه وويل: د دې څخه هم لوي مصيبت دی، ښځې ورته وويل: د دې څخه هم لوي مصيبت کيدای شي.

هغه وويل: زمونږ کورته دنيا راغلې چې آخرت مو خراب کړي، او زمونږ په کور کې مصيبت پيدا کړي، هغې ورته وويل: خو ځان ترې خلاص کړه، او ورته معلومه نه وه چې سعيد کومه دنيا يادوي.

سعيد ورته وويل: ته به په کې له ما سره مرسته وکړې؟، هغې وويل: هو

بيا يې هغه اشرفۍ په وړو وړو کڅوړو کې واچولې او په غريبو مسلمانانو يې تقسيم کړې.

بيا ډير وخت نه وو تير شوی چې عمر (رضي الله عنه) د شام د حالاتو د معلومولو لپاره لاړ، نو په «حمص» کې ميلمه شو، چې خلکو به ورته «کويفه» يعني وړه «کوفه» ويله، ځکه چې د «کوفې» په څير د دې ځای خلکو هم د خپلو اميرانو څخه ډير شکايتونه کول، کله چې خلک هرکلي ته ورغلل نو پوښتنه يې ترې وکړه چې: نوی امير (والي) مو څه رنګ دی؟

هغوي ترې شکايت وکړ، او د هغه څلور داسې کارونه يې وړاندې کړل چې يو تر بله زيات وو.

عمر (رضي الله عنه) وايي چې: ما سعيد او د «حمص» خلک يو ځاي کړل او د الله څخه مې سوال وکړ چې ای الله! د سعيد په اړه ما نااميده نه کړې، ځکه زه پرې ډير باوري يم.

کله چې هغوي او امير يې زما خوا ته راغلل، نو ما ورته وويل: تاسو د خپل امير څخه څه شکايت کوئ؟

هغوي وويل: مونږ ته ډير نا وخته له کوره راووځي.

عمر سعيد ته وويل: څه جواب لرې؟ سعيد لږ غلی شو، او بيا يې وويل:

په الله قسم چې زه دا خبره کول نه خوښوم، خو اوس يې ويلو ته اړتيا ده، زه په کور کې خدمتګار نه لرم، زه هر سهار وختي پاڅم، اوړه اغيړم، بيا لږ انتظار کووم چې خميره شي، بيا ترې ډوډۍ پخوم، بيا اودس کووم او دباندې راووځم.

عمر وويل: بل څه شکايت لرئ؟

هغوي وويل: د شپې چا له جواب نه ورکوي.

عمر وويل: سعيده! په دې اړه څه وايې؟

سعيد وويل: په الله قسم چې ما دا هم نه ښکاره کول، خو ما ورځ خلکو ته ورکړې او شپه مې الله له.

عمر وويل: بل څه شکايت لرئ؟

هغوي وويل: په مياشت کې يوه ورځ مونږ ته نه راووځي.

عمر وويل: سعيده! دا ولې؟

سعيد وويل: اې د مؤمنانو اميره! زما خدمتګار نشته، او نه د دې يوې جوړې پرته نور کالي لرم، زه دا په مياشت کې يو ځل وينځم او تر وچيدو پورې ورته انتظار کووم، نو بيا دوې ته د ورځې په پای کې راوځم.

عمر وويل: له ده څخه بله څه ګيله لرئ؟

هغوي وويل: کله پرې بې خودي راځي چې د مجلس له خلکو څخه بې پروا کيږي.

عمر وويل: سعيده! دا څه دي؟

سعيد وويل: زه د شرک په حالت کې د خبيب بن عدي وژلو ته حاضر شویووم، ما قريش ليدل چې د هغې د بدن څخه به يې غوښې پريکولې، او ورته به يې ويل: ستا خوښه ده چې محمد (ﷺ) ستا پر ځاي شي؟.

هغه به ويل: په الله قسم! زه نه خوښوم چې د خپلې ميرمن او بچو سره دې په امن کې ناست يم او د محمد (ﷺ) په خپه کې دې ازغی هم لاړ شي.

په الله قسم! زه چې کله هغه ورځ را ياده کړم، چې ما ولې د هغه سره همکاري ونه کړه نو ګمان کووم چې الله تعالی به ما ته بخښنه ونکړي، او بيا را باندې بې هوشي راشي.

په دغه وخت کې عمر وويل: ثنا ده هغه ذات لره چې د سعيد په اړه يې زه نا اميده نه کړم.

بيا يې د هغه د اړتياؤو د پوره کولو لپاره زر اشرفۍ وروليږلې، نو په ليدو يې ورته ښځې وويل:

ثنا هغه ذات لره ده چې مونږ يې ستا د خدمت څخه بې پروا کړو، نو د اړتيا وړ شيان واخله، او يو خدمتګار ونيسه.

سعيد ورته وويل: ستا لپاره ددې څخه ښه شی دروښايم؟، هغې ورته وويل: هغه به څه وي؟

ورته يې وويل: داسې چا ته به يې ورکړو چې د دې څخه د ډيرې اړتيا په وخت کې يې راته راکړي.

ښځې يې ورته وويل: هغه څه رنګ؟

سعيد وويل: الله ته به يې قرض حسن ورکړو.

ښځې ورته وويل: سمه ده، الله دې تا ته لدې څخه غوره بدله درکړي.

هغه لا د دغه ځاي څخه پورته شوی نه وو چې ټولې اشرفۍ يې په وړو وړو کڅوړو کې واچولې، او د خپل کور يو کس ته يې وويل:

دا د فلاني کونډې ته، دا د فلاني يتيمانو ته، دا د فلاني د کورنۍ غريبانو ته، او دا دفلاني د کورنۍ اړمنو ته ورسوه.

الله تعالی دې د سعيد بن عامر جمحي څخه راضي شي، بې له شکه نوموړی د هغه خلکو څخه وو چې د خپلې اړتيا سره يې نور په خپل ځان مخکې کول.

## طفيل بن عمرو الدوسي

" الله ته ورله يوه داسې نخښه ورکړه چې د خير په کارونو کې ورسره مرسته وکړي"

[ هغه ته د رسول الله (ﷺ) د دعاؤ څخه ]

طفيل بن عمر الدوسي په جاهليت کې د «دوس» قبيلې سردار، دعربو دلوړ رتبه مشرانو او د ګوتو په شمار د يو څو غيرتي خلکو څخه وو.

د سخاوت له امله يې کټوه له اور څخه نه ښکته کيده او نه يې د چا پر مخ دروازه تړل کيده، وږي ته يې ډوډۍ، ويره لړونکي ته يې امن، او پنا غوښتونکي ته يې پنا ورکوله.

او ددې هر څه سره يو ډير ذهين او هوښيار اديب، د لوړو احساساتو او نرمو خيالاتو شاعر او په خوږو او ترخو خبرو پوهيدونکی وو، تر دې چې خبرو به پرې د جادو په څير اغيزه کوله.

طفيل په «تهامه» نومې ځاي کې خپل قوم پريخود او مکې ته يې په داسې وخت کې مخه کړه چې د رسول الله (ﷺ) او د قريشو تر منځ کړکيچ په زور کې وو، او هر چا هڅه کوله چې د ځان لپاره مرستندويان پيدا او د خپلې ډلې همکاران ډير کړي.

د الله ستر پيغمبر د ايمان په وسله خلک خپل رب ته رابلل او د قريشو کافرو يې په ټول توان مقابله کوله او په هره وسيله يې خلک د هغه څخه منعه کول.

طفيل پرته له کومې تيارۍ او ارادی په دغه کړکيچ کې خپل ځان بياموند، ځکه چې هغه مکې ته ددغه هدف لپاره نه وو راغلی، او نه يې کله د محمد (ﷺ) او قريشو دغه حالت په زړه کې ګرځيدلی وو.

نو ځکه خو ددغه کړکيچ په اړه د طفيل قصه دومره عجيبه ده چې د هيريدو نه ده، نور راځئ چې دغه ناآشنا قصه پخپله د طفيل څخه واورو.

طفيل خپله قصه داسې کوي:

زه مکې ته راغلم، او چې څه رنګ د قريشو مشرانو وليدم نو راغله او په ښه شکل يې راته ښه راغلاست ووايه او په ډير ښه ځاي کې يې ميلمه کړم، بيا د قريشو سرداران او مشران راټول شول او راته يې وويل:

ته زمونږ کلي ته راغلی يې او دغه سړي چې د پيغمبرۍ دعوه يې کړې ده زمونږ کار يې راخراب کړی، زمونږ يوالی يې شلولی او زمونږ ډله يې ماته کړې ده، مونږ ويريږو چې تا او په قوم کې ستا مشرۍ ته هغه څه ونه رسي، کوم چې مونږ ته رارسيدلي دي، نو د دغه سړي سره خبرې ونه کړې او نه ترې څه واورې ځکه د هغه د وينا د جادو په شان ده چې ځوي له پلار څخه، ورور له ورور څخه او ښځه له خاوند څخه جدا کوي.

طفيل وايې:

په الله قسم چې هغوي ما ته ددغه سړي په باره کې عجيبه عجيبه خبرې وکړې، او د هغه د ناآشنا کارونو څخه يې زه د خپل ځان او قوم په اړه وويرولم، تر دې چې ما هوډ وکړ چې نه به ددغه سړي سره يوځاي کيږم او نه به ورڅخه څه اورم.

کله چې زه سهار کعبې ته د طواف او د بتانو څخه د برکت د لاسته راوړلو لپاره لاړم، هغه بتان چې مونږ به يې زيارت ته راتلو او د هغوي عزت به مو کولو نو ما په خپلو غوږونو کې له دې ويرې مالوچ (پنبه) کيخوده چې هسې نه د محمد خبرې واورم.

زه چې جومات ته ننوتم نو ما هغه وليد چې د کعبې خوا ته لمونځ کوي خو زه د لمونځ په شان نه، او د عبادت طريقه يې هم زمونږ څخه جلا وه، د هغه په ليدو زما په زړه کې خوشحالي پيدا شوه، د هغه د عبادت له امله مې په ځان کې حرکت بياموند او هغه ته له ارادې پرته ورو ورو نږدې کيدم، تر دې چې ډير ورنږدې شوم.

الله تعالى غوښتل چې د هغه څه خبرې زما تر غوږو راورسي، د هغه څه خبرې ما واوريدې، او په زړه کې مې وويل:

طفيله! مور دې درباندې بوره شي، دا خو يو ډير هوښيار شاعر دی او ته خو د خبرو ښه او بد پيژني، نو څه شی تا دده د خبرو له اوريدو څخه منعه کوي؟ که خبرې يې ښې وې، وبه يې منم، او که بدې وې نو نه به يې منم.

طفيل وايي: زه تر هغه پاتې شوم چې رسول الله (ﷺ) کور ته ستون شو، نو زه ورپسې شوم چې کورته ننوت زه هم پسې ننوتم او ورته مې وويل:

ای محمده! ستا قوم ما ته ستا په اړه داسې داسې خبرې وکړې، او ستا څخه يې دومره وويرولم تر دې چې ما په خپلو غوږونو کې لدې ويرې مالوچ کيخودل چې ستا خبرې وانه ورم، خو الله تعالى غوښتل چې ستا خبرې واورم، نو ستا خبرې راباندې ښې ولګيدې، ته راته خپله خبره وکړه، هغه راته خپله خبره وکړه او سورت اخلاص او فلق يې راته واورول، په الله قسم چې ما د هغه له خبرو څخه خوږې خبرې هيڅکه نه وې اوريدلې، او نه مې د هغه د کار څخه غوره کار ليدلی وو.

په دغه وخت کې ما هغه ته خپل لاس اوږد کړ، او د (أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدا رسول الله) په ويلو سره مې اسلام قبول کړ.

طفيل وايي: ما په مکه کې يو څه وخت تير کړ چې په هغې کې مې د اسلام څه کارونه وپيژندل او د قرآن کريم يو څه سورتونه مې ياد کړل، او بيا مې خپل قوم ته د ګرځيدو اراده وکړه نو نبي (عليه السلام) ته مې وويل:

ای د الله پيغمبره! زما قوم زما خبره مني، او زه هغوي ته ورځم چې اسلام ته يې راوبولم، نو زما لپاره د الله تعالى څخه يوه داسې نخښه وغواړه چې د اسلام په دعوت کې له ما سره مرسته وکړي، هغه دعا وکړه: «اي الله ده لره يوه نخښه ورکړې».

زه د خپل قوم په طرف روان شوم، کله چې زه د خپلې کلي يو لوړ ځاي ته ورسيدم نو زما د سترګو په منځ کې د ډيوې په څير رڼا پيدا شوه، ما وويل:

اي الله! دا رڼا په بل ځاي کې پيدا کړه، زه ويريږم چې هغوي دا ګومان ونکړي چې دا د خپل دين د پريخود سزا ده، نو هغه رڼا زما د درې (کوړې) سر ته منتقل شوه، زه چې د غونډۍ

څخه د هغوي طرف ته روان وم نو هغوي دغه رښا د زوړندې ډيوې په څير زما د کوړې په سره کي ليدله، کله چې زه ورغلم نو پلار مې چې ډير بوډا وو زما خوا ته راغی، ما ورته ويل:

زما څخه ليرې شه، زما او ستا تر منځ اوس کومه اړيکه نشته.

هغه وويل: بچوړيه ولې؟ ما ورته ويل:

ما اسلام منلی، او د محمد (ﷺ) ددين پيروي مې کړې ده.

هغه وويل: ای بچيه، زما دين ستا دين دی. ما ورته وويل:

لاړه شه، غسل وکړه، خپل کالي پاک کړه، او بيا راشه چې هغه څه دروښايم چې ما ته ښودل شوي دي.

هغه لاړ، غسل يې وکړل، کالي يې پاک کړل، بيا راغی نو ما ورته اسلام وړاندې کړ، چې قبول يې کړ.

بيا مې ښځه راغله، هغې ته مې هم وويل چې زما څخه ليرې شه، زما او ستا کومه اړيکه نشته، هغې راته وويل: زما مور او پلار دې ستا څخه قربان شي ولې؟

ما ورته وويل: اسلام زما او ستا تر منځ جدايي راوستې، ما اسلام قبول کړی، او د محمد ي د دين پيروي مې کړي ده.

هغې وويل: زما دين ستا دين دی، ما ورته وويل: لاړه شه، او د «ذي الشري» بت خوا ته په اوبو غسل وکړه.

هغې راته وويل: زما مور او پلار دې ستا څخه قربان شي، په ما د «ذي الشري» څخه له کوم مصيبته ويره لري؟

ما ورته وويل: ته او «ذي الشري» دې خوار شي، لاړه شه او هلته د خلکو څخه ليرې غسل وکړه، دغه کنه تيره په تا هيڅ هم نه شي کولای.

لاړه، غسل يې وکړ، بيا راغله، اسلام مې ورته وړاندې کړ او مسلمانه شوه.

بيا مې د «دوس» ټوله قبيله دعوت کړه، خو هغوي سستي وکړه، يواځې ابوهريره ډير زر اسلام قبول کړ.

طفيل وايي: بيا درسول الله (ﷺ) خوا ته مکې ته راغلم، او ابو هريره راسره وو، هغه راته وويل: طفيله! شا ته دې څه پريخودل.

ما ورته وويل: د هغوي زړونه په پردو او سخت کفر کې دي، په «دوس» باندې گناه او نافرماني واکمنه ده.

رسول الله (ﷺ) پاڅيد، اودس يې وکړ او خپل لاسونه يې اسمان ته پورته کړل.

ابو هريرة وايي کله چې ما هغه په دې حالت کې وليد، نو وويريدم چې هسې نه زما قوم ته بد دعا ونکړي او هغوي هلاک نه شي، نو ما وويل: افسوس دی زما په قوم!

خو رسول الله (ﷺ) دا دعا کوله: ای الله! دوس ته لارښوونه وکړه، ای الله! دوس ته لارښوونه وکړه، ای الله! دوس ته لارښوونه وکړه.

بیا یې طفیل ته په کتلو وویل: خپل قوم ته لاړه شه، د هغوي سره نرمي وکړه، او اسلام ته یې دعوت کړه.

طفیل وایي: زه تر هغه د «دوس» په خاوره کې پاتې شوم او هغوي مې اسلام ته رابلل، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مدینې منورې ته هجرت وکړ او د بدر، احد او خندق غزاګانې تیرې شوې وې، نو زه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته راغلم او زما سره د دوس اتیا مسلمانې شوې کورنۍ وې چې په ښه توګه یې اسلام منلی وو، زمونږ په راتګ هغه ډیر خوشحاله شو او د خیبر په غنیمت کې یې مونږ ته برخه هم راکړه، مونږ ورته وویل:

ای دالله پیغمبره! مونږ ته د خپلې هرې غزا ښۍ طرف وسپاره، او زمونږ شعار «مبرور» وګرځوه.

طفیل وایي: بیا زه د رسول الله (ﷺ) سره تر هغه ووم چې مکه فتحه شوه نو ورته مې وویل:

ای د الله پیغمبره! ما د عمرو بن حممه بت «ذو الكفين» ته د سوزولو لپاره ولیږه، نو ما ته یې اجازه راکړه، نو زه د خپل قوم د یوې ډلګۍ سره د بت په طرف روان شو، کله چې هلته ورسید او د بت د سوزولو اراده یې وکړه، نو ښځې، سړي او ماشومان را جمع شول او طفیل ته یې د تکلیف د رسیدو انتظار کولو، چې که طفیل «ذو الكفين» ته ضرر ورسولو نو عذاب به پرې نازلیږي.

خو طفیل د بت پرستانو په مخکې راغی او د هغه په سینه کې یې اور ولګوه او دا نیم بیتی یې تکراروه:

**يا ذا الكفين لست من عُبَّادكَا**

**ميلادُنا أقدَمُ من ميلادكا**

**إني حشوتُ النَّار في فُؤادكا**

**ذوالکفینه مونږ دې نه یو له بندګانو**

**په دنیا کې مونږ له مخکې نه پیدا یو**

**په سینه کې دې د اور په اچولو کې لګیا یو**

کله چې بت د اور په لمبو کې پټ شو، نو ورسره په «دوس» قبیلې کې پاتې شرک هم خپل ټغر ټول کړ او ټول قوم په سمه توګه اسلام قبول کړ.

تر دې وروسته طفیل بن عمرو د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) تر وفاته پورې د هغه سره وو، او چې کله ابو بکر صدیق د مسلمانانو خلیفه شو نو خپل ځان، توره او اولاد هر څه یې د هغه په پیروۍ کې کیخودل.

کله چې د اسلام څخه د ګرځېدونکو جنګونه پيل شول نو طفيل د مسيلمة الکذاب پر ضد دتلونکي لښکر په سر کې وو، او د هغه ځوي عمرو هم ورسره وو.

«يمامه» ته د تللو په لار کې طفيل خوب وليد، خپلو ملګرو ته يې وويل: ما خوب ليدلی دی، تعبير يې راته وکړئ.

هغوي وويل: څه دې په خوب کې ليدلي؟، هغه وويل:

ګورم چې سر مې وخريل شو او د خولې څخه مې يو مرغه والوت او زه د يوې ښځې په خيټه کې ننوتم، زما ځوي عمرو ما ګوري خو زما او د هغه تر منځ پرده راشي.

ملګرو يې وويل: د خير خوب دی.

هغه وويل: په الله قسم چې ما خو يې تعبير کړی دی.

زما د سر خريل د پريکيدو په معنا ، د خولې څخه د مرغه الوتل د روح د وتلو په معنا، او د ښځې په خيټه کې ننوتل په ځمکه کې د ښخيدو په معنا دی، زه هيله لرم چې شهيد به شم.

او زما ځوي چې ما ګوري، دا په دې معنا دی چې هغه هم زما په څير شهادت غواړي خو هغه به وروسته شهادت بيامومي.

د «يمامه» په جنګ کې طفيل بن عمرو ښه وازمايل شو، تر دې چې د جنګ په ميدان کې شهيد راپريوت.

د هغه ځوي عمرو تر هغه جنګيدو چې د ټپونو له امله کمزوری شو او ښی لاس يې پريکړل شو، نو مدينې ته په داسې حالت کې راغی چې خپل پلار او لاس يې د «يمامه» په خاوره کې پريخودي وو.

د عمر فاروق (رضي الله عنه) د خلافت په زمانه کې عمرو بن طفيل د هغه خوا ته ورغي، عمر (رضي الله عنه) ته ډوډۍ راوړل شوه، د هغه سره خلک ناست وو نو خلک يې ډوډۍ ته راوبلل خو عمرو يوې څنډې ته شو، عمر (رضي الله عنه) ورته وويل: ولې، لکه چې د خپل لاس څخه د شرميدو له امله له ډوډۍ څخه وروسته شوې؟

هغه وويل: هو، ای د مؤمنانو اميره!

عمر وويل: په الله قسم! تر هغه به دا ډوډۍ ونه څکم تر څو چې پکې خپل پريکړل شوی لاس ونه وهې.

په الله قسم، په ناستو خلکو کې له تا پرته بل داسې څوک نشته چې د بدن يوه برخه يې په جنت کې وي.

د پلار د جدايي وروسته د شهادت خوب هر وخت د عمرو مخې مخې ته کيدو، تر دې چې د «يرموک» معرکه راورسيده، نو دنورو تر څنګ عمرو هم ورودانګل او تر هغه وجنګيدو تر څو يې چې هغه شهادت لاس ته راوړ چې پلاره يې ورته هيله مند وو.

الله دې پر طفيل بن عمرو دوسي باندې رحم وکړي، هغه شهيد او د شهيد پلار وو.

## عبد الله بن حُذافة السهمي

" باید هر مسلمان د عبد الله بن حذافه سربښکل کړي، او پيل پرې زه کووم "

[ عُمر بن الخطاب (رضي الله عنه) ]

زمونږ د دې قصې قهرمان د صحابه ؤ څخه يو تن دی چې عبد الله بن حذافه سهمي نوميږي.

کيدی شوه چې تاريخ د نورو مليونونو عربو په څير دا سړی هم هير کړی وی، او هيڅ يادونه يې ترې نه وی کړی.

خو اسلام عبد الله بن حذافه ته دا فرصت برابر کړ چې په خپله زمانه کې د نړۍ د دوه سترو مشرانو د فارس د بادشاه «کسری» او د روم د مشر «قيصر» سره ليدنه وکړي.

د دې دواړو سره د هغه قصه د زمانې په حافظه کې پاتې او د تاريخ په ژبه بيانيږي.

د فارس د بادشاه «کسری» سره د هغه قصه د هجرت په شپږم کال پيښه شوې وه، هغه وخت چې رسول الله (ﷺ) د عجمو بيلا بيلو بادشاهانو ته د ځينو صحابه کرامو په لاس دليکونو د ليږلو هوډ وکړ، تر څو هغوي اسلام ته راوبولي.

رسول الله (ﷺ) ته د دې کار خطر معلوم وو، ځکه دا کسان به ليرې او نا آشنا هيوادونو ته تلل چې د هغې په اړه يې هيڅ معلومات نه درلود، نه يې د هغوي ژبه پيژنده او نه د هغوي د بادشاهانو د مزاج سره اشنا وو.

بيا د دوي مسئوليت دغه بادشاهان د خپل دين پريخودو، د خپل عزت او واکمنۍ څخه جدا کيدو او د يو داسې قوم دين ته رابلل وو چې ځينې يې تر نږدې وخت پورې د هغوي پيروان وو.

دا يو ډير خطرناک سفر وو چې تلونکي يې ورک او راګرځيدونکي يې له سره پيدا وو، نو لدې امله رسول الله (ﷺ) صحابه راجمع کړل او هغوي ته د وينا لپاره پورته شو.

دحمد، ثنا او تشهد وروسته يې وويل: زه غواړم چې په تاسو کې يو څه کسان د عجمو بادشاهانو ته وليږم، نو زما سره، نو په ما داسې ګډوډي مه راولئ لکه بني اسرائيلو چې په عيسي بن مريم راوستې وه.

صحابه کرامو وويل: ای د الله رسوله! چيرې چې دې خوښه وي ومو ليږه، څه چې غواړې مونږ به يې ستا لخوا ورسوو.

نبي (عليه السلام) په خپله خوښه دصحابه ؤ څخه شپږ کسان وټاکل چې د هغه خطونه د عربو او عجمو بادشاهانو ته ورسوي، چې په هغوي کې يو هم «عبد الله بن حذافه سهمي» وو چې د فارس بادشاه «کسری» ته د خط وړلو لپاره وټاکل شو.

عبد الله بن حذافه خپله سورلي تياره کړه، د خپلو ملګرو او بچو څخه يې رخصت واخيست، او د لارې په لوړو او ژورو کې يواځې د خپل هدف په لور روان شو چې د الله تعالی پرته ورسره هيڅوک نه وو.

کله چې د فارس هيواد ته ورسيد، نو بادشاه ته يې د ورتللو اجازه وغوښته او د هغه همکاران يې د هغه ليک څخه خبر کړل چې د دوي بادشاه ته يې راوړی وو.

«کسری» چې خبر شو نو د خپلې خونې د خائسته کولو امر يې وکړ، مجلس ته يې د «فارس» غټان راوبلل او بيا يې عبد الله بن حذافه ته د ننوتلو اجازه ورکړه.

عبد الله بن حذافه د فارس مشر ته په داسې حال کې ورغې چې نری څادر او پيړه چپن يې په تن وه او د کليوالو سادګي پرې له ورايه ښکاريده.

خو د دې سره هغه د اوچت سر او قوي تنې څښتن وو، چې د اسلام عزت ورسره ملګرې وو او په زړه کې يې د ايمان لويې په لمبو وه.

کله چې «کسری» هغه خپل طرف ته روان وليد نو يو کس ته يې اشاره وکړه چې د هغه دلاس څخه ليک واخلي، هغه ورته وويل: نه! ما ته د الله رسول امر کړيدی چې ستا په لاس کې به ليک در کووم او زه د هغه د امر څخه سرغړونه نه شم کولای.

کسری خپلو خلکو ته وويل: پريږدئ چې ما ته نږدې شي، هغه ته نږدې شو او ليک يې ترې پخپل لاس واخيست.

بيا «کسری» د «حيره» اوسيدونکی يو عربي ليکوال راوغوښت او امر يې ورته وکړ چې ليک دده په مخکې پرانيځې او ورته يې ولولي، په هغې کې ليکل شوي وو:

(د مهربان او بخښونکي الله په نوم، دا ليک د الله د پيغمبر محمد څخه د فارس واکمن کسری ته دی، سلام دې پر هغه چا وي چې د هدايت پيروي کوي...).

کله چې «کسری» د ليک دومره برخه واوريده نو په سينه کې يې د قهر اور بل شو، مخ يې سور شو او د ستوني رګونه يې وپړسيدل، ځکه چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) له خپل ځان څخه پيل کړی وو، خط يې له لوستونکي څخه کش کړ، او پرته لدې چې پوهه شي چې په خط کې نور څه دي، ټوټې ټوټې يې کړ او چيغې يې کړې: زما غلام ما ته داسې ليکنه کوي؟

بيا يې امر وکړ چې عبد الله بن حذافه له مجلس څخه وباسئ، نو وويستل شو.

عبد الله بن حذافه د کسری له مجلس څخه ووت او نه پوهيدو چې څه به ورسره کوي، وبه وژل شي او که آزاد به پريخودل شي.

بيا يې د لږ ځنډ وروسته له ځانه سره وويل: هر څه چې د رسول الله (ﷺ) د ليک د رسولو وروسته راپيښيږي، پروا نه کوي او بيا په خپله سورلۍ سپور او روان شو.

کله چې د «کسری» غصه سړه شوه، امر يې وکړ چې عبد الله راولئ، خو پيدا نه شو، ويې کتلو خو معلوم نه شو، د عربي جزيرې په لاره پسې ووتل خو هغه ترې مخکې تللی وو.

کله چې عبدالله د رسول الله (ﷺ) خوا ته راغی، قصه يې ورته وکړه چې «کسری» يې ليک څيرې کړ، نو رسول الله (ﷺ) دومره وويل چې: «الله دې بادشاهي ړنګه کړي».

کسری په يمن کې خپل نايب «باذان» ته وليکل چې: دغه سړي ته چې په حجاز کې ښکاره شوی دی د خپلې خوا څخه دوه قوي کسان وليږه چې ما ته يې راولي، «باذان» خپل دوه

غوره کسان د یو خط سره نبي (علیه السلام) ته ولیږل، چې ورته یې لیکلي وو: پرته له ځنډه د دوي سره د «کسرى» خوا ته روان شه.

دواړو سړو ته یې وویل: ددغه سړي د حالت څخه ښه ځان خبر کړئ، او ما ته یې پوره معلومات راوړئ.

دواړه سړو پرلپسې سفر وکړ تر دې چې طائف ته ورسیدل، هلته یې د قریشو یو څو کسه تاجران ولیدل له هغوي څخه یې د محمد (ﷺ) په اړه پوښتنه وکړه، هغوي ورته وویل: «هغه په یثرب کې دی»، دغه تاجران مکې ته په خوشحالۍ لاړل او قریشو ته یې په خوښۍ وویل: «سترګې مو یخې کړئ، کسرى د محمد مخې ته شویدی او تاسو به یې د شر څخه خلاص کړي».

هغه دواړه سړو مدینې ته مخه کړه، تر دې چې راغلل او د نبي (علیه السلام) سره مخ شول، او هغه ته یې د «باذان» لیک ورکړ او ورته یې وویل:

د بادشاهانو بادشاه «کسرى» زمونږ بادشاه «باذان» ته لیکلي دي چې تا ته داسې څوک ولیږي چې هغه ته دې بوځي، نو مونږ راغلي یو، راسره لاړ شه، که زمونږ خبره دې ومنله نو مونږ به د «کسرى» سره ستا د ګټې خبره وکړو چې تا د هغه له شر څخه وژغوري، او که انکار دې وکړ نو ته خو د هغه قوت، برلاسي او توان پیژنې چې تا او ستا قوم به له منځه یوسي.

رسول الله (ﷺ) مسکی شو او هغوي ته یې وویل:

«اوس خپل ځاي ته لاړ شئ، سبا راشئ».

سبا چې راغلل نو نبي (علیه السلام) ته یې وویل: ځان دې زمونږ سره تللو ته اماده کړی دی چې د «کسرى» سره وګورې؟.

نبي (علیه السلام) ورته وویل: «د نن وروسته به کسرى ونه ګورئ، الله تعالى هغه وژلی دی او په هغه باندې د هغه زوي «شیرویه» د فلانۍ میاشتې په فلانۍ شپه برلاسی شوی دی».

هغوي نبي (علیه السلام) ته په حیرانتیا سره وکتل او ورته یې وویل: پوهیږې چې څه وایې؟ مونږ هم دا خبره «باذان» ته ولیکو؟

نبي (علیه السلام) ورته وویل: هو، او دا ورته هم ووایئ چې زما دین به هغه ځاي ته رسي کوم ځای ته چې د کسرى بادشاهي رسیدلې ده، که تا اسلام قبول کړ، نو ستا د لاس لاندې چې څه دي هغه به هم درکړم او د خپل قوم مشر به دې هم جوړ کړم.

دواړه سړي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له خوا نه ووتل، «باذان» ته ورغلل او خبره یې ورته وکړه، هغه وویل: که د محمد خبره ریشتیا وي نو هغه پیغمبر دی، او که نه نو بله څه چاره به یې وکړو.

لږ وخت به لا نه وو تیر شوی چې باذان ته د شیرویه لیک راورسید چې په کې لیکلي یې وو:

ما کسرى د خپل قوم په بدله کې مړ کړ، ځکه هغه د قوم د مشرانو وژنه، د ښځو وينځې کول او د مالونو لوټول حلال کړي وو، څه رنګ چې زما ليک در ورسيد نو د خپلو خلکو څخه زما د پيروۍ ژمنه واخله.

کله چې باذان د شيرويه ليک ولوست، يو طرف ته يې ګوزار کړ د اسلام اعلان يې وکړ او د فارس هغه خلک هم مسلمانان شول چې دده سره په يمن کې وو.

دا د فارس د بادشاه «کسرى» سره د عبد الله بن حذافه د ليدلو قصه وه، د روم د بادشاه «قيصر» سره د هغه د ليدلو قصه د عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) په خلافت کې واقع شوې وه چې ډيره ناآشنا او عجيبه قصه ده.

د هجرت په نولسم کال عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) روميانو سره د جنګ لپاره يو لښکر وليږلو چې عبدالله بن حذافه هم په کې وو، له دې څخه وړاندې «قيصر» ته د مسلمان فوج حالات رسيدلي وو چې هغوي د ريشتينې ايمان، کلکې عقيدې او د الله او د هغه د رسول په لاره کې د سرښندنې خاوندان دي.

قيصر امر وکړ که د مسلمانانو څخه مو کوم کس ونيولو نو ژوندى يې ده ته راولئ، د الله به خوښه وه چې عبد الله بن حذافه د هغوي په لاس کې ورغې او خپل بادشاه ته يې بوتلو او ورته يې وويل: دا د محمد د مخکينو ملګرو څخه دى چې زمونږ په لاس راغى او مونږ تا ته راوست.

د روم بادشاه ډير وخت عبد الله بن حذافه ته ښکته پورته وکتل او بيا يې ورته وويل:

زه تا ته يو پشنهاد کول غواړم.

عبد الله ورته ويل: او هغه څه؟

قيصر وويل: مسيحي شه، زه به تا پريږدم او ښه به درسره وکړم.

بندي په انکار او سختۍ سره وويل: دا هيڅ چيرې نه شي کيدى، مرګ زر واره د هغه شي څخه بهتر دى چې ته ورته ما رابولې.

قيصر ورته وويل: ما ته ډير بهادر سړى ښکارې، که زما دا خبره دې وومنله نو د ځان سره به دې شريک کړم او خپله واکمني به درسره وويشم.

په زولنو کې تړل شوي بندي په خندا کې وويل: په الله قسم! که ته او ټول عرب خپله واکمني ما ته په دې بدل کې راکړي چې د سترګو د رپ په اندازه د محمد د دين څخه وګرځم، نو دا کار به ونکړم.

قيصر وويل: نو مړ به دې کړم.

عبد الله ورته وويل: چې څه دې خوښه وي ويې کړه.

قيصر امر وکړ چې د صليب په لرګي پورې يې وتړئ او په رومي ژبه يې وويل چې: د لاسونو خوا خوا ورله په غشو ولئ او ده به ورته دمسيحيت دعوت ورکولو خو هغه انکار کولو، بيا يې وويل: د خپو خوا يې ورته وولئ، او ورته يې ويل يې چې د خپل دين څخه وګرځه خو هغه انکار وکړ.

بیا یې خپلو خلکو ته وویل: بس کړئ او د لرګي څخه یې راښکته کړئ، بیا یې یو لوي دیګ راوغوښت، تیل یې پکې واچول او په اور یې تر هغه کیخوده چې تیل وجوشیدل، بیا یې د مسلمانانو یو دوه بندیان راوستل، په دیګ کې یې واچول، چې له امله یې غوښه له هډوکو جدا شوه.

بیا یې عبدالله بن حذافه ته وکتل او مسیحیت ته یې دعوت کړ، نو د مخکې څخه یې هم ډیر انکار وکړ.

کله چې «قیصر» ناهیلی شو نو امر یې وکړل چې دی هم پدغه دیګ کې واچوئ، کله چې د دیګ خوا ته روان کړل شو نو په سترګو کې یې اوښکې راغلې، سړو خپل بادشاه ته وویل: دا خو ژاړي، «قیصر» ګمان وکړ لکه چې وویرید، نو وې ویل: ما ته یې بیرته راولئ.

کله چې یې مخې ته ودرول شو نو بیا یې د مسیحیت دعوت ورکړ، خو هغه انکار وکړ.

قیصر ورته وویل: خوار شې، نو بیا دې ولې ژړل؟

عبد الله ورته وویل: دې خبرې وژړولم چې په زړه کې مې وویل: ته خو به اوس دې دیګ ته واچول شې او مړ به شې، او زما دا خوښه وه چې د بدن د ویښتانو په اندازه روحونه مې وې او هر وار د الله په لاره کې دې دیګ ته اچول شوی وی.

دغه ظالم ورته وویل: ښه نو دا کولی شې چې سر مې ښکل کړې نو خوشې به دې کړم؟

عبدالله ورته وویل: ټول مسلمان بندیان به خوشې کړې؟

هغ ورته وویل: هو، ټول به خوشې کړم.

عبدالله وایې: په زړه کې مې وویل چې د الله یو لوي دشمن دی، خوکه سر یې ښکل کړم او ما او ټول مسلمان بندیان خوشې کړي نو په دې کې به څه نقصان نه وي.

بیا ورنږدې شو سر یې ورته ښکل کړ، پدې سره د روم بادشاه امر وکړ چې ټول مسلمان بندیان راولئ، کله یې چې دا خبره عمر (رضي الله عنه) ته وکړه نو ډیر خوشحاله شو او چې کله یې آزاد شوي بندیان ولیدل نو ویې ویل:

په هر مسلمان لازم دي چې د عبدالله بن حذافه سر ښکل کړي، او زه پدې کار پیل کوم او بیا پاڅید او د عبدالله سر یې ښکل کړ.

**عُمير بن وهب (رضي الله عنه)**

" عُميرُ بن وهب ما ته د ځينو خپلو بچو ځخه هم ګران دی"

[ عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) ]

عمير بن وهب په تيښته ځان له «بدر» ځخه خلاص کړ، خو ځوي «وهب» يې شاته د مسلمانانو په لاس کې بندي پاتې شو.

عمير ويره لرله چې هسې نه مسلمانان يې ځوي د ده په ګناه ونيسي او د نبي (عليه السلام) او د صحابه کرامو د تکليفونو په بدل کې هغه ته تکليف ورنکړي.

يوه غرمه عمير د کعبې د طواف او د بتانو ځخه د برکت لاسته راوړلو لپاره مسجد حرام ته لاړ نو هلته يې صفوان بن اميه وليد چې د کعبې په خوا کې ناست وو، عمير خوا ته ورغې او ورته يې وويل: د قريشو سرداره سهار دې په خير.

صفوان ورته وويل: د وهب پلاره ستا سهار دې په خير وي، کينه چې په خبرو لږ وخت تير کړو.

عمير د صفوان خوا ته کيناسته، او د «بدر» خبرې يې پيل کړې چې دوی ته پکې کوم لوي تکليف رسيدلی وو، او خپل هغه بنديان يې شمارل چې د محمد (ﷺ) او د هغه د ملګرو په لاس ورغلي وو، او د قريشو په هغه لويانو يې وير کولو چې د مسلمانانو په تورو وژل شوي وو او د بدر کوهي (څاه) په خپله خيټه کې ځای کړي وو، نو صفوان په افسوس سره وويل:

په الله قسم، د هغوي وروسته په ژوند کې خير نشته، عمير ورسره هم خبره غبرګه کړه چې په الله قسم ريښتيا دې وويل: او بيا يې د لږې چپتيا وروسته وويل: د کعبې په رب مې دې قسم وي که په ما قرضونه نه وی چې د ورکولو ځخه يې عاجز يم، او له ځانه وروسته د خپل اولاد د بې وسی ځخه نه ويريدی، نو ورتللم، او د محمد په وژلو مې د هغه قصه خلاصوله، او د شر مخه مې ورله نيوله، بيا يې په ښکته آواز وويل:

پدې وخت کې چې زما ځوي «وهب» د هغوي په بند کې دې مدينې ته زما تلل شکونه هم نه پيدا کوي.

صفوان بن اميه د عمير بن وهب دا خبره فرصت وګڼو او نه يې غوښتل چې له لاسه يې ورکړي، په کتلو کې يې ورته وويل: عميره! چې هر ځومره قرض دې وي زه به يې درته خلاص کړم، او تر ژونده پورې به زه ستا بچې د خپلو بچو سره يو ځای پالم، زما دومره مال دی چې د هغوي د ښه ژوند تيرولو لپاره بس دی.

عمير ورته وويل: نو بيا خو خبره پټه وساته. صفوان وويل: سمه ده.

عمير له جومات ځخه پداسې حال کې ووت چې د محمد (ﷺ) سره يې په زړه کې د نفرت اور لمبې وهلې، او د خپل هوډ د ترسره کولو لپاره يې تيارې پيل کړ، او مدينې ته د سفر په اړه يې د چا له شک ځخه ويره هم نه کوله، ځکه په دغه ورځو کې د بنديانو خپلوان د خپلو خلکو د خلاصولو لپاره «يثرب» ته تلل راتلل.

عمیر خپله توره تیره کړه ، زهر یې ورکړل، خپله سورلي یې راوغوښته، چې ورته راوستل شوه ، په شا یې سپور شو، او د مدینې په طرف روان شو چې د کرکې او شر څخه ډک وو.

عمیر مدینې ته ورسید، د رسول الله (ﷺ) په لټولو پسې جومات ته لاړ، د جومات په دروازه کې یې سورلۍ کینوله او تر ښکته شو.

په دغه وخت کې عمر (رضي الله عنه) د خپلو یو څو ملګرو سره د جومات د دروازې خوا ته ناست وو او په خپل منځ کې یې د «بدر» خبرې کولې، د قریشو بندیان او وژل شوي یې یادول، او د مهاجرینو او انصارو د قهرمانۍ انځورونه یې تکرارول، چې الله تعالی دوي ته بریالیتوب ورکړ او دشمن ته یې ماته.

عمر په دغه وخت کې نظر وکړ نو عمیر بن وهب یې ولید چې ویستلې توره د جومات طرف ته روان دی، نو په ویره سره پورته شو او ویې ویل: دا سپې خو د الله دشمن عمیربن وهب دی، په الله قسم چې دا خو د کوم شر لپاره راغلی دی چې په مکه کې یې مشرکان زمونږ پر ضد راپارولي دي، او دې خو د «بدر» څخه مکې د هغوي جاسوس وو.

بیا یې خپلو ملګرو ته وویل: ورشئ او د رسول الله (ﷺ) چاپیره ودریږئ او احتیاط کوئ چې دا چالاکه خبیث درسره دوکه ونکړي.

بیا په خپله نبي (علیه السلام) ته ورغی او ورته یې وویل: ای د الله رسوله! دا د الله دشمن عمیر بن وهب ویستلې توره راغلی، چې زما پرې د شر ګمان راځي.

نبي (علیه السلام) وویل: زما خوا ته یې راولئ.

عمر فاروق عمیر بن وهب ته مخه کړه، د ګریوان څخه یې ونیو، او په څټ یې ورته د تورې تیکی کیخود، او نبي (علیه السلام) ته یې بوتلو، کله چې رسول الله (ﷺ) په دې حال کې ولید نو ویې ویل: عمره! خوشې یې کړه، او ترې شا ته شه، عمر شا ته شو، بیا رسول الله (ﷺ) عمیر بن وهب ته مخ کړ او ورته یې وویل:

عمیره نږدې شه، عمیر نږدې شو او ورته یې وویل: سهار دې په خیر.

رسول الله (ﷺ) ورته وویل: مونږ الله تعالی ستاسو د ښه راغلاست په بدل کې په «سلام» باندې عزتمند کړي یو.

عمیر ورته وویل: په الله قسم چې ته هم د دغه ښه راغلاست څخه لیرې نه یې، او اوس اوس دې پریخودی.

نبي (علیه السلام) ورته وویل: عمیره! د څه لپاره راغلی یې؟

هغه وویل: ددغه بندي د خوشې کولو لپاره راغلی یم، نو زما سره په کې ښه وکړئ.

نبي (علیه السلام) ورته وویل: نو په غاړه کې دې دا توره څه کوې؟

عمیر وویل: الله دې دا تورې ورکې کړي، دې په «بدر» کې مونږ ته څه ګټه ورسوله؟

رسول الله (ﷺ) ورته وویل: ریشتیا ووایه، د څه لپاره راغلی یې؟

هغه وویل: هم ددغه لپاره راغلی یم.

نبي (علیه السلام) ورته وویل: نه! بلکه ته او صفوان چې د کعبې په خوا کې ناست وئ او د قریشو د وژول شوو په اړه مو خبرې کولی، تا ورته وویل: که قرض او اولاد نه وی نو د محمد د وژلو لپاره تللم، صفوان بن امیه زما د وژلو په بدل کې ستا د قرض او اولاد مسئولیت پر غاړه واخیست، خو الله تعالی ستا او ستا د ارادې تر منځ پرده شو.

عمیر حیران شو، او بیا یې د لږ وخت وروسته وویل: زه ګواهي کووم چې ته د الله پیغمبر یې.

بیا یې وویل: مونږ ته د هغه خبرو له امله درواعجن ګڼلې چې تا به یې د اسمان څخه د راتلو دعوه کوله، او ویل به دې چې ما ته وحي راځي، خو زما او د صفوان د خبرو څخه زمونږ د دواړو پرته هیڅ څوک خبر نه وو، اوس مې یقین راغی چې هر څه تا ته د الله لخوا راځي.

ثنا د هغه ذات لره چې زه یې تا ته د دې لپاره راوستم چې د اسلام لارښوونه راته وکړي، او بیا یې د شهادت کلمه وویله.

نبي (علیه السلام) خپلو ملګرو ته وویل: خپل ورور ته دین ذده کړئ، قرآن ورته وښایئ، او بندي یې پریږدئ.

مسلمانان د عمیر بن وهب په اسلام ډیر خوشحاله شول، تر دې چې عمر (رضي الله عنه) وویل: ما ته خنزیر د عمیر بن وهب څخه هغه وخت ښه ښکاره کیدو کله چې د رسول الله (ﷺ) خوا ته راغی، خو نن را ته د خپلو ځینو بچو څخه هم ښه ښکاري.

یو طرف ته عمیر د اسلام په لارښوونو خپل نفس پاکولو، خپل زړه یې د قرآن په رڼا ډکولو، او د خپل ژوند ډیرې خوږې ورځې یې تیرولې تر دې چې مکه او د مکې خلک ورڅخه هیرشول.

بل طرف ته صفوان بن امیه په خپل زړه کې ډیرې هیلې لرلې، او د قریشو مجلسونو ته په ورتګ به یې ویل: په یو ډیر لوي خبر خوشحاله شئ چې ډیر زر به درته راورسي چې د «بدر» حادثه به درنه هیره کړي.

د صفوان بن امیه انتظار اوږد شو، او زړه ته یې کرار کرار شک لاره پیدا کړه، تر دې چې له ناکرارۍ داسې شو لکه په سکروټو چې اوړي راوړي، د راتلونکو څخه به یې د عمیر بن وهب په اړه پوښتنې کولی خو چا ورله تسلي وروکوونکی جواب نه ورکولو، تر دې چې یو سپور ورته راغی او وې ویل: عمیر اسلام قبول کړی دی.

دا خبر په صفوان لکه د تندر ولګیده، ځکه هغه دا فکر کولو چې که د دنیا ټول خلک مسلمانان شي خو عمیر به مسلمان نه شي.

عمیر بن وهب دیني ذده کړه کوله، او څومره چې ورته اسانه وه قرآن کریم یې حفظ کولو چې نبي (علیه السلام) ته راغی او ورته یې وویل:

ای د الله پیغمبره! په ما داسې وخت تیر شوی دی چې د الله د نور د له منځه وړلو هڅه مې کوله، د اسلام منونکو ته مې ډیر تکلیفونه رسول ، اوس غواړم چې ما ته اجازه راکړې تر څو مکې ته لاړ شم او قریش الله او د هغه رسول ته راوبولم، که هغوي زما خبره ومنله، ښه به وکړي او که نه نو هغوي ته به داسې تکلیف ورکړم لکه چې ستا ملګرو ته مې ورکولو.

رسول الله (ﷺ) اجازه ورکړه، مکې ته په رسیدو د صفوان بن امیه کور ته ورغی او ورته یې وویل:

ای صفوانه! ته د مکې د مشرانو او د قریشو د عقلمندو خلکو څخه یې، ته څه فکر کوي دا تاسو چې د تیږو عبادت او د دوي لپاره حلالکه کوئ دا د عقل له نظره سم کار دی؟، زه خو ګواهي ورکووم چې د الله پرته بل دبندګۍ حق دار نشته، او محمد د الله پیغمبر دی.

بیا عمیر په مکه کې د الله تعالی طرف ته بلنه پیل کړه تر دې چې په لاسونو یې ډیرو خلکو اسلام قبول کړ.

الله تعالی دې عمیر به وهب له ستره بدله ورکړي او د هغه قبر دې له نوره ډک کړي، آمین.

أبو أيوب الأنصاري

**خالد بن زيد النَّجاري**

" د قسطنطینیې د دیوالونو لاندې ښه خخیږي "

دا ستر صحابي خالد بن زید بن کُلیب نومیږي او د «بنو نجار» قبیلې سره یې تړاؤ درلود، کنیه یې ابو ایوب او انصارو ته منسوب وو.

په مسلمانانو کې به څوک ابو ایوب انصاري نه پیژني؟

الله تعالی د نړۍ په ګوټ ګوټ کې هغه وخت هغه ته شهرت او په خلکو کې یې ورته قدر ورکړ کله چې د نورو ټولو مسلمانانو پر ځاي د هغه کور د دې لپاره وټاکل شو چې د هجرت وروسته په کې د الله پیغمبر اوسیدل پیل کړي، د هغه لپاره دومره ویاړ بس وو.

د ابو ایوب په کور کې د نبي (علیه السلام) د اوسیدو قصه ډیره زړه راښکونکی ده چې بیا بیا بیانول یې د خوند څخه خالي نه دي.

کله چې نبي کریم (ﷺ) مدینې منورې ته ورسید، نو د مدینې اوسیدونکو ورته په خپلو زړونو ښه راغلاست ووایه، او په داسې شوق یې ورته وکتل لکه عاشق چې خپل معشوق ته ګوري.

خپل زړونه یې ورته پرانیستل تر څو نبي (علیه السلام) یې تل ته کوز شي او د خپلو کورونو دروازې یې ورته پرانیستې چې په عزتمنده توګه ورته ننوځي.

خو نبي (علیه السلام) د مدینې خوا ته په «قباء» نومې ځای کې څلور ورځې تیرې کړې، چې په دغه ورځو کې یې هلته جومات جوړ کړ، دا په اسلام کې لومړی جومات وو چې په تقوا سره یې بنسټ ایخودل شوی وو.

بیا نبي (علیه السلام) د «قباء» څخه په خپله اوښه سپور ووت، د «یثرب» مشران ورته په لار کې ولاړ وو، او هر یو دا هیله لرله چې د هغه په کور کې د نبي (علیه السلام) د اوسیدو ویاړ لاس ته راوړي، په هغوي کې به هر یو وار په وار د اوښې مخې ته کیدل او وویل به یې:

ای د الله پیغمبره! زمونږ سره اووسیږه، مونږ به دې په ټول توان ساتنه کوو.

خو هغه به ویل: اوښه پریږدئ، دې ته حکم شوی دی.

اوښه د خپل هدف په لور روانه وه، چې سترګې ورپسې وې او زړونو ترې چاپیره وو.

کله چې به اوښه د چا له کوره تیره شوه نو د هغې اوسیدونکي به خفه او ناهیلي شول، او د راتلونکو په زړونو کې به هیله پیدا شوه.

اوښه په خپل حال مخکې تلله، او خلک ورپسې شاته روان وو، تر څو هغه نیکبخته وپیژني چې اوښه به د هغه د کور مخې ته کیني، تر دې چې اوښه د ابو ایوب انصاري د کور مخکې یو خالي میدان ته ورسیده او هلته کیناسته، خو نبي (علیه السلام) تر ښکته نه شو.

لږ وروسته اوښه پاڅيده، روانه شوه او نبي (عليه السلام) يې واګې ورسستې کړې، د لږو تللو ورسته اوښه راوګرځيده او په لومړي ځای باندې کيناسته.

پدغه وخت کې د ابو ايوب انصاری زړه له خوښۍ ډک شو، او په منډه ورغې د الله پيغمبر ته يې ښه راغلاست ووايه، د هغه سامان يې داسې د ځان سره واخيست لکه د ټولې دنيا خزانې يې چې اخيستې وې او خپل کور ته يې ويوړل.

د ابو ايوب کور له يو منزل او يوې بالا خانې څخه جوړ وو، هغه بالا خانه د خپل کورنې سامان څخه خالي کړه تر څو نبي (عليه السلام) په کې ديره شي، خو نبي (عليه السلام) په لاندې منزل کې اوسيدل خوښ کړل، ابو ايوب د هغه خبره ومنله او د اسلام ستر پيغمبر يې هغه ځاې ديره کړ، چيرې چې د هغه خوښه وه.

کله چې شپه شوه او نبي (عليه السلام) د ويده کيدو ځاې ته ورغی، ابو ايوب او د هغه ميرمن بالا خانې ته پورته شول، کله يې چې دروازه بنده کړه خپلې ميرمن ته يې په کتو کې وويل:

خواره شې، دا مونږ څه وکړل؟ د الله پيغمبر به لاندې وي او مونږ به د هغه څخه پورته يو؟ مونږ به د الله د پيغمبر دپاسه ګرځو؟ مونږ به د هغه او د وحې تر منځ راځو؟، مونږ خو به هلاک شو.

خاوند او ميرمن دواړه پښيمانه شول او نه پوهيدل چې څه وکړي، تر هغې يې زړونو ارام ونکړ، تر څو چې د بالا خانې هغه طرف ته شول چې د نبي (عليه السلام) دپاسه نه وه، د هغه ځايه نه خوزيدل او چې کله به يې تګ راتګ کولو نو د بالا خانې غاړو ته به تلل، نه په منځ.

چې سهار شو، ابو ايوب نبي (عليه السلام) ته وويل: په الله قسم! ما او د ايوب مور بيګاه سترګې نه دي پټې کړي.

نبي (عليه السلام) ورته وويل: ولې؟

هغه ورته وويل: ما ته ياد شو چې مونږ د کور په پاسنۍ برخه کې يو او تاسو په لاندينۍ کې، که ګرځيدو نو په تاسو خاورې راغورزيدی، او بل مونږ ستا او د وحې تر منځ راغلو.

نبي (عليه السلام) ورته وويل: په ځان نرمی وکړه، زمونږ لپاره دا ښه ده چې لاندې اووسيږو، ځکه مونږ ته ډير خلک راځي.

ابو ايوب وايې: ما د نبي (عليه السلام) خبره ومنله، تر دې چې په يوه يخه شپه کې زمونږ د اوبو منګې مات شو او اوبه يې په بالا خانه کې توی شوې، زه او د ايوب مور د اوبو د وچولو لپاره پورته شو، زمونږ د يوې شړۍ پرته نور څه نه وو چې مونږ به په ځان اچوله، په هغې مو لدې ويرې اوبه وچې کړې، چې هسې نه په نبي (عليه السلام) وڅاځي.

چې سهار شو، نبي (عليه السلام) ته ورغلم او ومې ويل: زما مور پلار دې له تا قربان شي، زه دا بد ګڼم چې زه پورته يم او ته ښکته، بيا مې ورته د منګې قصه وکړه، نو هغه زما خبره ومنله او بالا خانې ته پورته شو، او زه او د ايوب مور لاندې ښکته شو.

نبي (علیه السلام) د ابو ایوب په کور کې اوه میاشتې پاتې شو، تر دې چې په هغه خالي میدانی کې چې اوښه پرې ناسته وه جومات جوړ شو، نو نبي (علیه السلام) هغه اطاقونو ته لاړ چې د هغه او د میرمنو لپاره یې جوړ شوي وو، او په دغه توګه د الله پیغمبر د ابو ایوب ګاونډي شو، چې دواړه ډیر عزتمند ګاونډیان وو.

ابو ایوب د الله د ستر پیغمبر سره د زړه له کومې مینه کوله، او نبي (علیه السلام) هم د هغه سره ډیره مینه کوله او د هغه کور ته یې د خپل کور په څیر کتل.

عبد الله بن عباس (رضي الله عنه) وايي: یوه ورځ په غرمه کې ابو بکر صدیق (رضي الله عنه) جومات ته لاړ، عمر (رضي الله عنه) ولید، ورته یې وویل: ابو بکره! پدې وخت کې ولې راوتی یې؟ هغه ورته وویل: سختې لوږې راویستي یم. عمر ورته وویل: په الله قسم! زه هم د سختې لوږې له امله راوتی یم.

دواړه په دې حال کې وو چې نبي (علیه السلام) هم د دوی خوا ته راغی او ورته یې وویل: په دې وخت کې سه شي له کوره راویستي يئ؟

دواړو ورته وویل: په الله قسم چې د سختې لوږې له امله راوتي یو.

هغه مبارک ورته وویل: په هغه ذات قسم چې زما ځان د هغه په واک کې دی زه هم بل شي نه یم راویستې.

درې واړه لاړل، د ابو ایوب انصاري دروازې ته ودریدل، هغه به هره ورځ د نبي (علیه السلام) لپاره خواړه ساتل، چې کله به نبي (علیه السلام) له خپله وخته وځنډید نو بیا به یې هغه خواړه خپلې کورنۍ ته ورکول.

دروازې ته په رسیدو د ایوب مور راووته او ویې وویل: د الله پیغمبر او د هغه ملګري دې په خیر راشي.

نبي (علیه السلام) ورته وویل: ابو ایوب چیرې دی؟

ابو ایوب د نبي (علیه السلام) خبرې واوریدې، هغه نږدې د خورما په ونو کې کار کولو، په بیړه راغی او نبي (علیه السلام) او د هغه ملګرو ته یې ښه راغلاست ووایه، بیا یې وویل: ای د الله پیغمبره! ته خو کله په دې وخت کې نه یې راغلی، هغه ورته وویل: ریشتیا دې وویل.

بیا ابوایوب لاړ د خورما له ونې څخه یې یوه څانګه راغوڅه کړه چې په هغې کې وچې، تازه او نیم خامې خورما وې.

نبي (علیه السلام) ورته وویل: مونږ خو دا نه غوښتل، پخې خورما به دې ترې راغونډې کړې وی.

هغه وویل: زما خوښه ده چې تاسو هر ډول خورما وخورئ، او زه به درله څه شی حلال کړم.

نبي (علیه السلام) ورته وویل: که څه شی حلالوي خو چې د شیدو حیوان حلال نه کړې.

ابو ایوب د چیلۍ بچی حلال کړ، میرمن ته یې وویل: وړه واغیړه او ډوډۍ پخه کړه، د چیلۍ بچی یې نیم په کټوۍ کې پوخ کړ او نیم یې په سکروټو، کله چې خواړه تیار شول، د نبي

(علیه السلام) او د هغه د ملګرو مخې ته یې کېخود، نبي (علیه السلام) یوه ټوټه غوښه په ډوډۍ کېخوده او وی ویل: ابو ایوبه! دا فاطمې ته ورسوه، هغې له څو ورځو داسې خواړه نه دي خوړلي.

کله یې چې خوراک وکړ او ماړه شول، نو نبي (علیه السلام) وویل: ډوډۍ، غوښه، پخې تازه او نیم خامې خورما، او بیا یې له سترګو اوښکې روانې شوې او وې ویل: په هغه ذات مې دې قسم وي چې زما ځان د هغه په واک کې دی چې دا هغه نعمتونه دي چې د قیامت په ورځ به یې له تاسو څخه پوښتنه کیږي، نو چې کله دا خواړه خورئ (بسم الله) ووایئ، او چې ماړه شوئ نو ووایئ چې: (الحمد لله الذي هو أشبعنا و أنعم علینا بأفضل)، «ثنا ده هغه ذات لره چې مونږ یې ماړه کړو، او غوره نعمت یې رانادې وکړ».

بیا نبي (علیه السلام) پورته شو او ابو ایوب ته یې وویل: سبا زما خوا ته راشه.

د نبي (علیه السلام) سره به چې چا ښه وکړل نو د هغه بدله ورکول به یې خوښول، خو ابو ایوب د نبي (علیه السلام) دا خبره وانه وریده.

عمر (رضي الله عنه) ورته وویل: نبي (علیه السلام) درته امر کوي چې سبا زما خوا ته راشه.

هغه وویل: د نبي (علیه السلام) خبره په سر سترګو.

سبا ته چې ابو ایوب د نبي (علیه السلام) خوا ته ورغی نو هغه ورته یوه کوچنۍ وینځه ورکړه چې د نبي (علیه السلام) خدمت به یې کولو او ورته یې وویل: ابو ایوبه! له دې سره ښه کوه، تر څو چې زمونږ سره وه مونږ ترې له خیر پرته نور څه نه دي لیدلي.

ابو ایوب د کوچنۍ وینځې سره کورته ستون شو نو چې کله د ایوب مور جلۍ ولیده، وې ویل: ابو ایوبه دا د چا ده؟ هغه ورته وویل: نبي (علیه السلام) مونږ ته راکړه. هغې وویل: ډیر لوي ورکونکی، او ډیره غوره ورکړه ده.

ابوایوب ورته وویل: مونږ ته یې د دې سره د ښه چنلد امر کړی دی.

هغې وویل: مونږ به د دې سره څه وکړو چې د نبي (علیه السلام) وصیت پوره شي؟

هغه وویل: د ازادولو پرته یې زه بله لار نه ګورم.

هغې وویل: ستا خبره سمه ده، او بیا یې هغه کوچنۍ وینځه ازاده کړه.

دا په عام حالت کې د ابو ایوب انصاري د ژوند انځور وو، خو که ته په جنګ کې د هغه د ژوند ځیني انځورونه ووینې نو ډیر نا اشنا به درته ښکاره شي.

ابو ایوب انصاري ټول عمر په جهاد کې تیر کړی دی، تر دې چې ویل کیږي: هغه د نبي (علیه السلام) د زمانې څخه د معاویه (رضي الله عنه) تر واکمنۍ پورې له یوې غزا څخه هم وروسته نه دی پاتې شوی، مګر دا چې په بله غزا کې به مشغول وو.

د هغه اخیرنۍ غزا د معاویه (رضي الله عنه) په وخت کې وه کله چې هغه د قسطنطینې د فتحې لپاره د خپل ځوي «یزید» تر مشرۍ لاندې لښکر تیار کړ، په دغه وخت کې د ابو ایوب عمر نږدې اتیا کاله وو، خو بوډاتوب هغه د یزید په لښکر کې د ګډون او د الله په لار کې د جهاد لپاره په دریاب کې د سفر کولو څخه منعه نه کړ.

خو د دشمن خوا ته د ورتللو به لږ وخت تیر شوی وو چې ابو ایوب داسې مریض شو چې د جنګ کولو جوګه نه وو، په دې حال کې یې «یزید» پوښتنې ته راغی او ورته یې وویل: ابو ایوبه څه شي ته اړتیا لرې؟

هغه وویل: په اسلامي لښکر زما سلام وایه او ورته ووایه چې: ابو ایوب تاسو ته وصیت کوي چې تر اخیره د دشمن په خاوره کې ننوځئ، ما د ځان سره واخلئ، او د قسطنطینې د دیوالونو تر څنګ مې د خپلو خپو لاندې خخ کړئ او هم په دې حال کې یې خپلې روستۍ سلګۍ وویستۍ.

اسلامي لښکرو د رسو الله (ﷺ) د صحابي غوښتنه پوره کړ، په دښمن یې سخته حمله وکړه تر دې چې د قسطنطینې دیوالونو ته په داسې حال کې ورسیدل چې ابو ایوب یې ورسره اخیستې وو، هم هلته یې ورله قبر جوړ او خخ یې کړ.

الله تعالی دې پر ابو ایوب انصاري (رضي الله عنه) رحم وکړي، هغه د الله په لار کې د بهترینو آسونو پر شا مرګ غوره کړ، په داسې حال کې چې عمر یې اتیا کالو ته نږدې وو.

**عمرو بن جموح (رضي الله عنه)**

**" هغه بوډا چې په ګوډه خپه یې په جنت کې د ګرځیدو هوډ کړی وو"**

عمرو بن جموع په جاهلیت کې د یثرب د مشرانو او د بنو سمله د قوم له سردارانو څخه وو، او نوموړی د مدینې په سخیانو او بهادرانو کې شمیرل کیده.

د جاهلیت په زمانه کې د غټانو دا عادت وو چې هر یو به یې د ځان لپاره یو بت جوړ کړی وو، تر څو ترې سهار او بیګا د دوي په ګمان برکت ترلاسه کړي، په ځانګړو وختونو کې د هغوي په نوم حلالکه وکړي او په ستونزو کې ورته زارۍ وکړي.

د عمرو بن جموح بت «منات» نومیده چې له ډیر غوره لرګي څخه یې جوړ کړی وو، او د هغه په ساتنه او حفاظت کې به یې له ډیر اسراف څخه کار اخیست، هر وخت به یې په ډیرو غوره عطرو کې لړلی وو.

دعمرو بن جموح عمر به د شپیته کلونو تیر شوی وو چې د یثرب کورونه د اسلام د لومړي دعوتګر مصعب بن عمیر په لاس د ایمان په شمعه رڼا کیدل پیل شوي وو، د عمرو زامنو هر یو معوذ، خلاد، معاذ او د هغوي همزولي معاذ بن جبل هم اسلام منلی وو.

د خپلو زامنو په څیر د هغوي مور «هند» هم ایمان راوړی وو، خو عمرو ته د خپل کور د غړو د اسلام قبلولو په اړه معلومات نه وو، د عمرو میرمن «هند» لیدل چې په «یثرب» کې اسلام ورځ به ورځ برلاسی کیږي او د مشرانو څخه د هغې د خاوند او یو څو کسانو پرته نور څوک په شرک نه دي پاتې.

هند د خپل خاوند سره ډیره مینه کوله او د هغه احترام یې کولو، هغه ویریده که عمرو په کفر کې مړ شي نو اور ته به لاړ شي، عمرو هم په خپلو زامنو ویریدو چې هسې نه د خپل پلار نیکه دین پریږدي او د مصعب بن عمیر په پیروۍ کولو سره د محمد په دین کې ګډون ونه کړي.

عمرو خپلې میرمن ته وویل: ګوره چې زامن دې د دغه سړي (مصعب بن عمیر) سره تر هغه ونه ګوري تر څو چې مونږ د هغه په اړه خپل نظر نه وي ښکاره کړی.

میرمن ورته وویل: په دواړو سترګو، خو ته کولای شي چې د خپل زوی معاذ څخه ددغه سړي په هکله څه واوري؟

عمرو ورته وویل: خواره شې، آیا معاذ زما د پوهې پرته خپل دین پریخودی؟

میرمن د خپل بوډا خاوند په حال وویریده او ورته یې وویل: نه نه! معاذ ددغه سړي یو څو مجلسونو ته ورغلی او له هغه څخه یې څه خبرې یادې کړي دي.

عمرو وویل: ما ته یې راولئ، کله چې معاذ د پلار مخې ته راغی نو ورته یې وویل: ددغه سړي د ویناؤو څخه یو څه ما ته واوره، هغه ورته وویل:

﴿ بسم الله الرحمن الرحيم ، الحمد لله رب العالمين ۞ الرحمن الرحيم ۞ مالك يوم الدين ۞ إياك نعبد وإياك نستعين ۞ اهدنا الصراط المستقيم ۞ صراط الذين أنعمت عليهم ،غير المغضوب عليهم ولا الضالين ﴾.

عمرو وویل: دا څومره خوږې او خائسته خبرې دي، ایا د هغه ټولې خبرې هم داسې دي؟

معاذ وویل: پلار جانه! ددې څخه هم ډیرې خوږې دي، ته کولای شي چې د هغه سره بیعت وکړې؟ ځکه ستا ټول قوم د هغه سره بیعت کړی دی، پلار یې لږ غلی شو، بیا یې وویل: تر هغه یې نه شم کولاي تر څو چې د «منات» سره مشوره وکړم.

هلک ورته وویل: پلاره! منات به څه ووایې هغه خو یو کوڼ لرګی دی چې نه عقل لري او نه خبرې کولای شي.

بوډا ورته په سخته لهجه وویل: ما درته وویل چې زه د هغه د مشورې پرته د کوم کار فیصله نه شم کولای.

بیا عمرو د «منات» خوا ته ودرید، د هغوي عادت دا وو چې کله به یې د خپل بت سره د خبرو اراده وکړه نو شا ته به یې یوه بوډۍ ښځه ودروله، نو د دوی په ګومان به بوډۍ دوي ته هغه جواب ورکولو چې بت به ورته په زړه کې واچولو، عمرو د «منات» مخې ته په خپله ښۍ خپه ودرید، ځکه چپه خپه یې ګوډه وه، او بیا یې د هغه ډیرو صفتونو وروسته وویل:

ای مناته! په دې کې هیڅ شک نه شته چې د مکې څخه راغلی دعوتګر ستا پرته بل هیڅ چا ته تکلیف نه رسوي، او مونږ ستا د عبادت څخه منعه کوي، سره لدې چې ما د هغې خوږې خبرې واوریدې خو ما ستا د مشورې پرته د هغه سره بیعت کول خوښ ونه ګڼل ، نو ما ته مشوره راکړه، «منات» ورته هیڅ جواب ورنکړ.

عمرو وویل: کیدای شي ته په غصه یې خو ما تر اوسه ستا د غصه کولو کوم کار نه دی کړی، خیر دی زه به یو څو ورځې نور هم صبر وکړم چې غصه دې سړه شي.

د عمرو زامن پوهیدل چې د پلار یې د «منات» سره څومره مینه ده، او څه رنګ هغه د دوی د پلار د ژوند برخه ګرځیدلی ده، خو دا ورته هم معلومه شوه چې د هغه په زړه کې د «منات» مینه په کمیدو راغلې، نو دوي باید کوشش وکړي چې د هغه د زړه څخه د «منات» مینه وباسي تر څو ایمان ته لار بیامومي.

د عمرو زامن او دهغوي دوست معاذ بن جبل د شپې د «منات» خوا ته ورغلل او د خپل ځاي څخه یې پورته کړ، او د بنو سلمه په ډیران کې یې ګوزار کړ، او پرته لدې چې څوک پرې پوهه شي خپل کورته ستانه شول، عمرو سهار وختي د سلام کولو لپاره په ډیر آرام سره د خپل بت په طرف روان شو، خو هلته یې پیدا نه کړ، وې ویل: خوار شئ، زمونږ په خدای نن شپه چا تیری کړیدی؟ خو چا جواب ورنکړ.

عمرو د کور دننه او بهر د بت لټول پیل کړل، له ډیره قهره یې ګوابښونه کول تر دې چې نسکور یې په ډیران کې پیدا کړ، وه یې پریمنځلو، پاک او خوشبویه یې کړ، او په خپل ځاي باندې د ایخودو وروسته یې ورته وویل: په الله قسم! که مې هغه څوک پیدا کړ چې تا سره یې دا کار کړی دی، نو وبه یې شرمووم.

دوهمه شپه هلکانو بیا د «منات» سره هغه کار وکړ، سهار بوډا بت د لټولو وروسته په هم هغه ځای کې پیدا کړ، دراخستلو وروسته یې پریمینځه، او د پاکولو او خوشبویه کولو وروسته یې په خپل ځای کې کیخود.

هلکانو به هره ورځ د بت سره دغه کار کولو، کله چې عمرو ډېر تنګ شو، د شپې مهال د ویده کیدو مخکې ورغی، توره یې ورته په سر زوړنده کړه او ورته یې وویل.

ای مناته! په الله قسم، زه هغه څوک نه پیژنم چې تا سره دا کار کوي، نو که څه خیر در په کې وي دا توره درسره ده، د خپل ځان ساتنه پرې وکړه، او بیا ویده شو.
کله چې د هلکانو باور راغی چې بابا ویده شو، ورپاڅیدل د بت د غاړې څخه یې توره لیرې کړه، د کوره یې بهر کړ او د یو مړ سپي سره یې یوځای د بنو سلمه یو چټل کوهي ته ګوزار کړ.
کله چې بوډا راویښ شو او بت یې پیدا نکړ نو د پیدا کولو لپاره یې ووت، څه ګوري چې د یو مړ سپي سره یو ځاي په کوهي کې پروت دی او توره ورسره نشته، دا وار یې هم هلته پریخود او وې ویل:

**قسم په الله که ته خدای وی**
**نو ولې په کوهي کې به د سپي سره یو ځای وی**

او بیا لږ وخت وروسته یې د الله دین قبول کړ.

عمرو بن جموح د ایمان د خوند د څکلو څخه وروسته په خپله هره هغه شیبه پښیماني ښکاره کوله چې د شرک په حالت کې یې تیره کړې وه، او بیا یې دین ته پخپل بدن او روح سره مخه کړه، او خپل ځان، مال او اولاد یې د الله او د هغه د رسول د پیروۍ مخې ته کړل.

د عمرو د ایمان به ډېر وخت نه وو تیر شوی چې د «احد» غزا راورسیده، هغه خپل زامن لیدل چې د الله د دشمنانو مقابلې ته یې ځانونه چمتو کول، او په تلو راتلو کې به ورته لکه د ځنګل د زمرو ښکاره کیدل چې شهادت او د الله تعالی د رضا لاسته راړولو ته په شوق کې وو، په دې سره د عمرو احساسات هم راوپاریدل او د نبي (علیه السلام) د بیرغ لاندې جهاد ته د تللو هوډ یې وکړ، خو زامن یې ددغه کار څخه د خپل پلار په منعه کولو یوه خوله شول، ځکه چې هغه ډېر بوډا وو، او د بوډاتوب تر څنګ ګوډ هم وو، چې له امله یې په هغه چا کې ګڼون درلود چې عذر یې د منلو وړ وو، هغوي خپل پلار ته وویل:

پلاره! الله تعالی ستا عذر قبول کړی، نو ولې ځان د هغه کار له امله په تکلیفوې چې الله درته بخښلی دی؟

پلار یې ددې خبرې په اوریدو په قهر شو او نبي (علیه السلام) ته د شکایت لپاره ورغی او ورته یې وویل:

ای د الله پیغمبره! زما زامن غواړي چې ما ددغه خیر څخه منعه کړي او هغوي وایې چې ته ګوډ یې، خو په الله قسم! زه هیله لرم چې په خپله ګوډه خپه په جنت کې وګرځم.

نبي (عليه السلام) يې زامنو ته وويل: دى پريږدئ، كيداى شي الله شهادت ورپه برخه كړي، او هغوي هم د رسول الله (ﷺ) د پيروئ له امله اجازه ورکړه.

كله چې د تللو وخت شو نو عمرو بن جموح د خپلې ميرمن څخه داسې رخصت واخيست لكه چې د جدايي وروسته بيا نه راځي، بيا يې قبلې ته په مخ كولو اسمان ته لاسونه پورته كړل، او وې وويل: اى الله! شهادت راكړه او كور ته مې ناهيلى مه راوله.

بيا د خپلو درې زامنو او بنو سلمه د يوې لويې ډلې په منځ كې روان شو.

كله چې جنګ ګرم شو او خلک د نبي (عليه السلام) څخه جدا شول، نو عمرو د لښكر په لومړي سر كې ليدل كيدو چې په خپله روغه خپه يې ټوپونه وهل او ويل يې: زه د جنت شوق لرم، زه د جنت شوق لرم.

ځوي «خلاد» يې شاته روان وو او بيا پلار او ځوې دواړه د نبي (عليه السلام) څخه په دفاع كې تر هغه جنګيدل تر څو چې دواړه د جنګ په ميدان كې پرلپسې شهيدان شول.

كله چې جنګ پاى ته ورسيد او نبي (عليه السلام) د شهيدانو د جسدونو خخول پيل كړل نو خپلو ملګرو ته يې وويل:

د وينو او زخمونو سره يې پريږدئ، زه به د دوي لپاره ګواهي وركوم، بيا يې وويل: «كوم مسلمان چې د الله په لار كې ټپي شي، نو د قيامت په ورځ به په داسې حال كې راشي چې له ټپونو به يې ويني بهيږي، رنګ به يې د زعفرانو او بوي به يې د مشكو وي».

بيا يې وفرمايل: عمرو بن جموح د عبد الله بن عمرو سره يوځاي خخ كړئ، ځكه دواړو په دنيا كې د يو بل سره ډيره پاكه مينه لرله.

الله تعالى دې د عمرو بن جموح او په «احد» كې د هغه د شهيدو شوو ملګرو څخه راضي شي، او د هغوي قبرونه دې روښانه كړي، آمين.

عبد الله بن جحش

**"لومړې هغه څوک چې د امیر المؤمنین خطاب ورته شوی "**

د کوم صحابي په اړه چې اوس مونږ خبرې کوو، د رسول الله (ﷺ) سره د قوي اړیکو، او یو له هغه صحابه څخه و چې په لومړیو کې مسلمانان شوي وو.

نوموړی د نبي (علیه السلام) د ترور ځوي وو ځکه د هغه مور أمیمه د عبد المطلب لور چې د نبي (علیه السلام) ترور (عمه) کیده.

په دغه توګه نوموړی د نبي (علیه السلام) اوښې هم کیده، ځکه د هغه خور زینب د حجش لور د نبي (علیه السلام) میرمن او د مسلمانانو مور وه.

نوموړی لومړی صحابي دی چې بیرغ ورته جوړ شوی وو او د مسلمانانو د امیر لقب ورکړل شوی وو، دغه صحابي عبد الله بن حجش نومیږي چې د بنو اسد قبیلې سره یې تړاؤ وو.

عبد الله بن جحش هغه مهال مسلمان شوی وو چې لا نبي (علیه السلام) د «ارقم» کور ته نه وو تللی نو ځکه نوموړې د لومړي سر مسلمانانو څخه شمیرل کیږي.

کله چې د اسلام ستر پیغمبر خپلو ملګرو ته اجازه ورکړه تر څو د مدینې طرف ته هجرت وکړي او خپل دین د قریشو د تکلیفونو څخه وساتي، نو عبد الله بن حجش دوهم صحابي وو چې دهجرت ویاړ ورپه برخه شو او یوائې ابو سلمه ترې مخکې شوی وو.

د الله تعالی په لار کې هجرت او د خپل کور او هیواد پریخودل عبد الله بن جحش ته نوی شی نه وو ځکه چې هغه مخکې هم د خپلو ځینو خپلوانو سره د حبشې طرف ته هجرت کړی وو، خو دا هجرت یې له پخوا څخه ډیر پراخه او هر اړخیز وو، دا وار د هغه سره ټوله کورنۍ، خپلوان، ورونه، خویندې، زاړه، ځوانان، نر او ښځې ملګري وو، ځکه دغه کورنۍ د اسلام کورنۍ او دغه قوم د ایمان قوم وو.

کله چې دوي له مکې څخه بهر شول نو کورونه یې د غم څخه ډک او داسې خالي پاتې شول لکه چې مخکې په کې څوک اوسیدلي نه وي.

د عبد الله د هجرت به ډیر وخت نه وو تیر شوی چې د مکې سرداران کوڅو ته راووتل تر څو معلوم کړي چې کومو مسلمانانو هجرت کړی او څوک پاتې شوي دي، په دغه مشرانو کې ابوجهل او عتبه بن ربیعه هم وو، عتبه د جحش د زامنو کورنو ته وکتل چې ګرد پورته کوونکي بادونه پکې لړیدل او دروازو یې اوازونه کول، نو وې ویل:

د جحش د زامنو کورنه خالي پراته دي او په خپلو خلکو باندې ویر کوي.

ابو جهل ورته وویل: دا څوک دي چې کورونه ورباندې ژاړي؟ بیا ابو جهل د عبدالله بن جحش په کور لاس کیخود، چې تر ټولو خائسته او مالداره کور وو او په هغه کې یې داسې لاسوهنه کوله لکه چې څوک یې په خپل کور کې کوي، کله چې عبدالله ته خبر ورسید نو نبي (علیه السلام) ته یې دغه خبره وکړه، هغه مبارک ورته وویل: «ستا خوښه نه ده چې الله تعالی ددې کور په بدل کې په جنت کې کور درکړي؟» هغه وویل: ولې نه ای د الله پیغمبره.

دلومړي او دوهم هجرت د ستړیاؤ وروسته عبد الله بن جحش په مدینه کې د ارام ساه نه وه اخستې، او نه یې د قریشو د ستونزو د زغملو وروسته د مدینې د انصارو په ګاونډ کې د خوراک خوند څکلی وو چې د الله به خوښه وه چې د خپل ژوند تر ټولو د ستر امتحان سره مخ شي او داسلام وروسته دیوې ترخې تجربې سره لاس او ګریوان شي.

راځئ چې ددغه سختې او ترخې تجربې قصې ته غوږ ونیسو.

داسلام ستر پیغمبر دلومړۍ عسکري حملې لپاره اته تنه صحابه کرام په خپله خوښه وټاکل چې په هغوي کې عبد الله بن جحش او سعد بن ابي وقاص هم وو، او بیا یې هغوي ته وویل: «زه به پر تاسو داسې څوک مشر کړم چې لوږې او تندې ته ډیر کلک وي» او بیا یې د هغوي بیرغ عبد الله بن جحش ته ورکړ، او په دغه توګه دی لومړی کس وو چې د مؤمنانو د یوې ډلې مشرې ورکړل شوه.

نبي (علیه السلام) عبد الله بن جحش ته د طرف وربښودلو وروسته هغه ته یو لیک ورکړ او ورته یې ویل چې د دوه ورځو سفر وروسته به لیک خلاص کړې، کله چې د دوه ورځو سفر وروسته عبد الله لیک خلاص کړ نو داسې پکې لیکل شوي وو:

«کله چې دې دا لیک ولوست نو تر هغې ځه تر څو چې د طائف او مکې تر منځ د نخله سیمې ته ورسیږې، هلته د قریشو څارنه کوه او مونږ ته یې په اړه معلومات رالیږه».

کله چې نوموړي لیک پوره کړ نو وې ویل: د الله د پیغمبر خبره واوریدل شوه او عمل به پرې وشي.

بیا یې خپلو ملګرو ته وویل: ما ته رسول الله (ﷺ) امر کړی دی چې تر نخله پورې لاړ شم او د قریشو څارنه وکړم تر څو د حالاتو په اړه یې نبي (علیه السلام) خبر کړم، او لدې یې منعه کړی یم چې په تاسو کې یو څوک له ځان سره په زوره بوځم، نو که څوک شهادت غواړي او مینه ورسره لري نو زما سره دې ملګرتیا وکړي، او که څوک نه غواړي نو پرته له بدیا څخه دې وګرځي.

ټولو په یوه خوله وویل: د رسول الله (ﷺ) خبره په سر سترګو قبوله ده، او هلته درسره ځو چیرې چې د الله پیغمبر امر کړی دی.

بیا دغه خلک تر هغه روان وو تر څو چې نخله ته ورسیدل او د قریشو د حالاتو څخه یې د ځان خبرولو لپاره ټولې لارې څارلې، دوي لا په دې حال کې وو چې د لیرې څخه یې د قریشو یوه قافله ولیده چې څلور کسان عمرو بن الحضرمي، حکم بن کیسان، عثمان بن عبد الله او دهغه ورور مغیره ورسره وو، دددوي سره د قریشو د سوداګرۍ مالونه وو چې په کې پوستکې، کشمش او د قریشو د تجارت نور شیان وو.

دا د عزتمندو (حرامو) میاشتو اخري ورځ وه، پدغه وخت کې صحابه کرامو په خپلو منځونو کې سره مشوره وکړه: که دوي وژنو نو پدې سره به د عزتمندې میاشتې بې عزتي وشي او هم به ټول عرب راته بد وګوري، او که پریږدو یې نو د ورځې تر ختمیدو به دوي د حرم ځمکې ته ننوتي وي، او زمونږ څخه به په امن کې شي.

خو اخیر یې په دې اتفاق وکړ چې حمله پرې کوو، وژنو یې او مالونه ترې اخلو، په څو ثانیو کې یې یو مړ، دوه یې ونیول او څلورم یې وتښتید.

عبد الله بن جحش او ملګرې يې د بنديانو او قافلې سره يو ځاى مدينې ته ورسيدل، كله چې رسول الله (ﷺ) ته ورغلل او هغه يې له كاره خبر شو نو ډير بده يې ومنله او ورته يې وويل: په الله قسم ما خو تاسو ته د جنګ امر نه وو كړى، ما خو يواځې د قريشو د حركت د څارلو او د هغې څخه زمونږ د خبرولو امر كړى وو.

بنديان يې د ځان سره وساتل تر څو چې په حق كې يې فيصله وكړي او د مال څخه يې مخ واړوو، هيڅ يې هم ترې وانه خستل.

پدغه وخت كې عبد الله بن جحش او د هغه ملګري سخت پښيمانه شول او يقين يې وكړ چې د نبي (عليه السلام) د مخالف له امله هلاک شول، او خفګان يې هغه وخت نور هم ډير شو كله چې مسلمانانو هغوي ملامته كول او له هغوي څخه به يې لاره چپوله او ورته ويل به يې: دا هغه خلک دي چې د رسول الله (ﷺ) د امر خلاف يې كړى دى.

كله چې دوي پوه شول چې قريشو د دغه حادثې څخه د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په خلاف د پروپاګنډ او سپكاوي وسيله جوړه كړيده نو نور هم غمجن شول، قريشو په نورو قبيلو كې دا مشهوره كړه چې محمد، حرامې مياشتې حلالې كړي دي، وينه يې توى كړيده، مال يې اخستى او خلک يې بنديان كړي دي.

لدې امله د عبد الله او د هغه د ملګرو د خفګان او د رسول الله (ﷺ) په مخكې د خجالت ويستلو په اړه پوښتنه مه كوه، ځكه په دې كار سره هغوي رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په سختئ كې اچولى وو.

كله چې د دوي خفګان سخت او ازمائشت يې درووند شو نو زيرى پرې وشو چې الله تعالى د دوي د كار څخه خوښ دى او په دې اړه يې په خپل پيغمبر د قرآن آياتونه نازل كړيدي.

په دې سره هغوي ډير خوشحاله شو، خلكو ورته غاړئ وركولى، زيرى او مباركئ يې وركولى او هغه آياتونه يو لوستل چې د دوي په حق كې نازل شوي وو چې هغه دا آياتونه وو:

**﴿ يسألونك عن الشهر الحرام قتال فيه ، قل قتال فيه كبير وصد عن سبيل الله وكفر به والمسجد الحرام وإخراج أهله منه أكبر عند الله ، والفتنة أكبر من القتل﴾.**

«دوي له تا څخه په حرامو مياشتو كې د جنګ په اړه پوښتنه كوي، ورته ووايه په دغه مياشتو كې جنګ كول لويه ګناه ده خو د الله د لارې څخه خلک بندول، په هغې كفر كول، له مسجد حرام څخه خلک بندول او خلک يې ورڅخه ويستل د الله په وړاندې له دې هم لويه ګناه ده، او شرک د قتل څخه لويه ګناه ده».

كله چې دغه سپيڅلي آياتونه نازل شول د رسول الله (ﷺ) زړه خوشحاله شو، قافله يې واخستله، دبنديانو څخه يې فديه ترلاسه كړه او د عبد الله بن جحش او د هغه د ملګرو په كړنه خوښ شو، ځكه چې د دوي دغه غزا د مسلمانانو په ژوند كې يوه ستره پيښه وه ځكه چې:

غنيمت يې په اسلام كې لومړى اخستل شوى غنيمت وو.

وژل شوى يې لومړى كس وو چې مسلمانانو يې وينه توى كړې وه.

بنديان يې لومړي كسان وو چې د مسلمانانو په لاس كې پريوتي وو.

بيرغ يې لومړی بيرغ وو چې رسول الله (ﷺ) تړلی وو.

او امير يې لومړی كس وو چې په امير المؤمنين نومول شوی وو.

بيا د «بدر» په غزا كې عبد الله بن جحش د خپل ايمان په اندازه امتحان وركړ.

د احد په غزا كې د عبد الله بن جحش او د هغه د ملګري سعد بن ابی وقاص قصه د هيرولو نه ده، راځئ چې دغه قصه پخپله د سعد له خولې واورو چې د خپل ځان او ملګري په هكله څه وايي:

د «احد» په غزا كې راسره عبدالله بن جحش مخ شو او راته يې وويل: د الله څخه دعا نه غواړې؟ ما ورته وويل: ولې نه.

بيا يو طرف ته ګوښه شو، ما د الله څخه دعا وكړه چې: ای ربه! ما سره په جنګ كې يو توان مند، او قهر جن دښمن مخامخ كړې چې زه د هغه سره او هغه له ما سره وجنګيږي، بيا پرې ما برلاسی كړې تر څو چې مړ يې كړم او د هغه مال ورڅخه واخلم. عبد الله زما په دعا آمين ووايه، او بيا يې وويل: ای الله! ما سره يو قوي او قهرجن سړی مخ كړی، چې زه ستا لپاره د هغه سره او هغه له ما سره وجنګيږي بيا ما ونيسي، زما پوزه او غوږونه راپرې كړي، چې سبا ستا سره مخ شم او ته راته ووايې چې: پوزه او غوږونه دې ولې غوڅ شوي دي، او زه درته ووايم: چې ستا او ستا د رسول په لار كې، او ته راته ووايې چې ريشتيا دې وويل.

سعد وايي: د عبد الله بن جحش دعا زما د دعا څخه غوره وه، ما د احد د غزا د ورځې په اخير كې وليد چې وژل شوی وو، غوږونه او پوزه يې د پريكړل كيدو وروسته د يو تار په واسطه په ونه راځړول شوي وو.

الله تعالی د عبد الله بن جحش دعا قبوله كړه، او په شهادت يې ونازوو لكه د هغه ماما او د شهيدانو سردار حمزه بن عبد المطلب چې يې پرې نازولی وو.

رسول الله (ﷺ) دواړه په يو قبر كې ښخ كړل په داسې حال كې چې اوښكو يې د هغوي د قبر خوشبويه خاورې خړوبولې.

أبو عبيدة بن الجراح

**عامر بن عبد الله بن الجراح**

**" د هر امت يو امين وي او د دې امت امين ابوعبيده دی "**

[ مُحمَّد رسُولُ الله (ﷺ) ]

د روښانه مخ، تازه شکل، نري بدن، اوږدې تنې، او د وچو اننګو ښتن وو، په ليدلو به يې سترګې خوشحاليدې، نفس به يې ليدل خوښول او زړه به ورسره آرام کيدو.

د دې هر څه سره د نرم خوي، ډيرې عاجزی، او سختې حيا خاوند هم وو، خو کله چې به يوه حادثه پيښه او اړتيا به ډيره شوه نو بيا به لکه د زمري په منډه وو.

نوموړی په خائست او رونېتوب، تيره والې او غوځوالي کې د تورې په څير وو.

ددغه ځانګړتياؤو ښتن د محمد (ﷺ) د امت امين، عامر بن عبد الله بن الجراح وو چې د قريشو د فهر د کورنۍ سره يې تړاؤ درلود او په عبيده مشهور وو.

عبد الله بن عمر (رضي الله عنهما) يې داسې ځانګړتيا بيانوي: د قريشو درې کسان وو چې د ټولو خلکو ځخه زيات د رڼو مخونو، ښو اخلاقو، او د ډيرې حيا خاوندان وو، که تا سره به يې خبرې کولې درواغ يې نه درته وويل او که تا به ورسره خبرې کولې درواغجن يې نه ګڼلې: ابو بکر صديق، عثمان بن عفان او ابو عبيده بن الجراح.

ابو عبيده له لومړيو اسلام راوړونکو ځخه وو، او د ابو بکر صديق ځخه يې يوه ورځ وروسته د نوموړي په لاس اسلام ومانه، ابو بکر صديق، ابوعبيده، عبد الرحمن بن عوف، عثمان بن مظعون او ارقم بن ابی الارقم (رضي الله عنهم) نبي (عليه السلام) ته بوتلل او د هغه په مخکې يې د حق کلمه ښکاره کړه، او په دغه توګه دوي د اسلام د لوي تعمير لومړي بنستيونه وګرځيدل.

ابو عبيده په مکه مکرمه کې د پيل ځخه تر پايه پورې د نورو مسلمانانو په سخته تجربه کې ژوند وکړ، او ټولې هغه سختې، تکليفونه، خفګانونه او غمونه يې وګالل چې د لومړي سر مسلمانان ورسره مخ شوي وو او د ځمکې پرمخ ورسره د بل دين پيروان نه وو مخ شوي، نوموړی په ټولو ازمائېنتونو کې کلک ودريد او په هر ځای کې يې د الله تعالی او د هغه د رسول خبره ريشتينې وګڼله.

خو د «بدر» د ورځې امتحان په ټولو سختيو داسې اوچت وو چې دچا په خيال او حساب کې نه راتلو.

نوموړي د بدر په ورځ د دښمن په صفونو داسې حملې کولې لکه چې د پريوتو ځخه نه ويريږي او په دې کار سره يې مشرکان وويرول، په ميدان کې داسې ګرځيده لکه له مرګه چې هيڅ ويره نه لري، چې له امله يې د قريشو جنګيالي په ويره کې وو او دده سره د مخ کيدو ځخه يې ډډه کوله، خو يو سړی داسې وو چې ابو عبيده ته به مخې مخې ته کيده، ابو عبيده به له هغه ځخه لاره بدلوله او دهغه سره به نه مخامخ کيدو.

هغه سړي په ګنه ګونه کې ننوت، ابو عبیده ترې ځان ساتلو، خو هغه د ابو عبیده ټولې لارې بندې کړې او دده او د الله د دشمنانو سره د جنګ تر منځ پرده شو.

کله چې ابو عبیده ډیر تنګ شو نو د هغه سر یې د تورې په ګوزار دوه ټوټې کړ او مخې ته یې راپریوت.

لوستونکیه! ددغه سړي د معلومولو هڅه مه کوه، مخکې مې درته ونه وویل چې د بدر سخته تجربه د حساب او خیال څخه پورته وه، د وژل شوې په پیژندو به سر درد وکړي، هغه د ابو عبیده پلار عبد الله بن الجراح وو.

ابو عبیده خپل پلار نه وو وژلی، بلکه د خپل پلار په جسم کې یې شرک وژلی وو، هم دا لامل وو چې الله تعالی د ابو عبیده او د هغه د پلار په حق کې د قرآن کریم دا آیاتونه نازل کړل چې:

**﴿ لا تجد قوماً يؤمنون بالله واليوم الآخر ، يوادون من حاد الله ورسوله ولو كانوا آباءهم أو أبناءهم أو إخوانهم أو عشيرتهم ، أولئك كتب في قلوبهم الإيمان ، وأيدهم بروح منه ، ويدخلهم جنات تجري من تحتها الأنهار خالدين فيها رضي الله عنهم ورضوا عنه ، أولئك حزب الله ألا إن حزب الله هم المفلحون ﴾. (المجادلة: )**

«ته به په الله او د اخرت په ورځ داسې ایمان راوړنکی قوم ونه وینې چې د الله او د هغه د رسول د دښمنانو سره مینه ولري، اګر که هغه د دوي پلرونه، زامن، ورونه او قومیان ولې نه وي، ددوي په زړونو کې ایمان لیکل شوی دی او الله په خپل روح دوي قوي کړي دي او دوي به داسې باغونه ته دننه کړي چې لاندې به یې نهرونه بهیږي، چې دوی به په هغې کې همیشه وي، الله له دوی څخه خوشحاله دی او دوي له الله څخه راضي دي، هم دوی د الله ډله ده او د الله ډله هرو مرو بریالی ده».

له ابوعبیده څخه د دغسې یو کار سرته رسول کومه ناآشنا خبره نه وه، ځکه هغه د ایمان په پیاوړتیا، د خپل دین په خیرغوښتنه او د محمد (ﷺ) د امت سره په امانتدارۍ کې داسې درجې ته رسیدلی وو چې د الله په وړاندې ورته د ډیرو لویو زړونو خاوندان پسخیدل.

محمد بن جعفر وایي: د مسیحیانو یوه ډله نبي (علیه السلام) ته راغله او ورته یې وویل: ای ابو القاسمه! زمونږ سره د خپلو ملګرو څخه یو داسې سړی ولیږه چې زمونږ تر منځ په ځینو مالي شخړو کې فیصله وکړي ځکه مونږ ستاسو څخه خوښ یو.

رسو الله (ﷺ) ورته وویل: روسته راشئ، تاسو سره به یو قوي او امانتدار سړی ولیږم.

عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) وایي: زه د ماسپښنین لمونځ ته خوشحاله لاړم، ما هیڅ کله هم د مشرۍ سره دومره مینه نه درلوده لکه په دغه ورځ چې مې ورسره مینه پیدا شوه، په دې هیله چې ددغه ځانګړتیاؤ څښتن به زه شم.

کله چې رسول الله (ﷺ) د ماسپښنین لمونځ وکړ، ښی او چپ طرف ته یې کتل، ما ورته ځان پورته پورته کولو چې ومې ویني، خو هغه تر هغه یوې او بلې خوا کتل چې ابو عبیده یې ولید، راوې غوښتلو او ورته یې وویل: «ددوي سره لاړ شه او په شخړو کې یې تر منځ د حق فیصلې وکړه».

ما د ځان سره وویل: دغه ځانګړتیاوې ابو عبیده خپلې کړې.

ابوعبيده يواځې امين نه وو، بلکه د قوت ځښتن هم وو، چې په ډېرو ځايونو کې يې خپل قوت ښکاره کړی وو.

د هغه قوت په هغه ورځ هم ښکاره شو کله چې رسول الله (ﷺ) د قريشو د قافلې د مخې نيولو لپاره يو شمير صحابه وليږل او ابو عبيده يې پرې مشر کړ، او د يو ګوډې خرما پرته يې د خوراک نور څه ورنه کړل، ابو عبيده به هره ورځ يو نفر ته يوه خرما ورکوله، نو هغوې به داسې رودله لکه ماشوم چې د مور سينه روي، بيا به دپاسه پرې اوبه څښلې نو د هغوې به يوه خرما د يوې شپې ورځې لپاره بس کيده.

د «احد په ورځ چې کله مسلمانانو ماتې وخوړه او مشرکينو چيغې پيل کړې چې: محمد راوښايئ، محمد راوښايئ، نو ابو عبيده يو په هغه لسو کسانو کې وو چې له رسول الله (ﷺ) څخه راتاؤ وو تر څو د مشرکانو له نيزو څخه په خپلو سينو د رسول (ﷺ) دفاع وکړي.

کله چې جنګ پاې ته ورسيدو، درسول الله (ﷺ) مخامخ غاښونه مات شوي وو، تندی يې ټپي شوی وو، او په مخ کې يې د زغرې دوه کړۍ ننوتې وې، ابو بکر صديق رامخې ته شو تر څو د نبي (عليه السلام) د مخ مبارک څخه کړۍ وباسي، نو ابوعبيده ورته وويل: ستا دې قسم وې چې ما ته يې پريږده چې زه يې وباسم نو هغه پريښودل، ابو عبيده ويره درلوده که په لاس کړۍ وباسي نو شايد چې رسول الله (ﷺ) ته ډېر درد ورسي نو لومړۍ کړۍ يې په خپلو غاښونو کې کلکه ونيوه تر دې چې د کړۍ د راويستلو سره يې غاښ ووتلو، بيا يې دوهمه کړۍ په دوهم طرف غاښ ونيوله تر دې چې د هغې د راوتلو سره يې دوهم غاښ هم ووتلو.

ابو بکر وويل: ابو عبيده تر ټولو خلکو ښه ماتېدونکي غاښونه ستا وو.

ابوعبيده د نبي (عليه السلام) سره له اسلام څخه تر مرګه پورې په ټولو غزاګانو کې ګډون کړی وو، کله چې په سقيفه کې د خليفه د ټاکلو ورځ شوه نو عمر بن خطاب ابو عبيده ته وويل: لاس راووړد کړه چې بيعت درسره وکړم، ځکه ما درسول الله (ﷺ) څخه اوريدلي دي: «دهر امت يو امين وي او زما د امت امين ته يې».

ابوعبيده ورته وويل: زه د هغه چا څخه نه مخکې کيږم چې رسول الله (ﷺ) ورته زمونږ لپاره د امامت امر کړی وو، او دهغه تر مرګه پورې يې په لمونځ کې زمونږ امامت وکړ.

بيا لدې وروسته د ابوبکر صديق (رضي الله عنه) سره بيعت وشو، نو ابوعبيده يې په حق کې ښه نصيحت کوونکی او په خير کې يې غوره همکار وو.

بيا کله چې ابو بکر (رضي الله عنه) خلافت عمر فاروق ( رضي الله عنه) ته وسپاره نو ابوعبيده د هغه هم پيروي کوله او هيڅکله يې د هغه د امر څخه پرته له يو ځل څخه سرغړونه ونه کړه، ته پوهيږې چې هغه به کومه خبره وه چې ابوعبيده په کې د مسلمانانو د خليفه له خبرې سرغړونه وکړه؟

کله چې ابوعبيده په شام کې د مسلمانانو د لښکر مشري کوله او پرلپسې برياليتوبونه يې ترلاسه کول تر دې چې د شام ټوله ځمکه د مسلمانانو د واکمنۍ لاندې راغله، او په ختيځ کې تر فرات او په شمال کې تر کوچنۍ اسيا پورې د دوي واکمني وغزيده، نو په دغه وخت کې په شام کې سخته وبا خوره شوه او خلک يې له منځه وړل پيل کړل، په دغه وخت کې عمر فاروق ابوعبيده ته يو ليک وليږه چې: زما درته يو سخت کار پيښ شوی دی نو قسم درکووم

که د شپې زما خط دروړسيد ، سهار ته مه ګوره او که د ورځې دروړسيد، شپې ته مه ګوره او راروان شه.

کله چې ابوعبيده د فاروق خط ولوست نو ويې ويل: زه د اميرالمؤمنين په اړتيا پوهه شوم هغه غواړي هغه څوک وژغوري چې پاتې کيدونکی نه دی، او بيا يې هغه ته په جواب کې وليکل: اي اميرالمؤمنينه! زه ستا په اړتيا پوهه شوم، زه اوس د مسلمانانو په لښکر کې يم، او زه د هغه څه څخه د ځان ژغورلو ته ليوالتيا نه لرم چې هغوي ته رسيدلی دی او نه غواړم چې له دوي څخه جدا شم تر څو چې الله زما او د دوي په هکله خپله فيصله ونه کړي، نو چې زما ليک درشي ما د خپل قسم څخه آزاد کړه او دلته د پاتې کيدو اجازه راکړه.

کله چې عمر (رضي الله عنه) د ابوعبيده ليک ولوست ډير سخت يې وژړل، ملګرو ترې پوښتنه وکړه چې ولې ابوعبيده وفات شو، هغه وويل: نه! خو مرګ ورته نژدې دی.

د عمر (رضي الله عنه) ګومان غلط نه وو، لږ وخت وروسته ابوعبيده په وبا مريض شو، کله چې يې مرګ نژدې شو نو خپل لښکر ته يې په نصيحت کې وويل:

«زه تاسو ته نصيحت کووم که قبول مو کړ نو په خير سره به ژوند وکړئ: د لمونځ پابندي کوئ، زکات ورکوئ، د رمضان رژوه نيسئ، خيرات ورکوئ، حج او عمره کوئ، يو بل ته نصيحت کوئ، د مشرانو خير غواړئ او دوکه ورسره مه کوئ، دنيا دې تاسو بې پروا نه کړي، ځکه که زر کاله عمر هم ولرئ بيا به هم زما حال درباندې راځي، الله تعالی د انسانانو لپاره مرګ ټاکلی نو هرو مرو به مړه کيږي، خو تر ټولو هوښيار هغه دی چې د خپل رب پيروي وکړي او د قيامت لپاره عمل وکړي. والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته»

بيا يې معاذ بن جبل ته په کتلو کې وويل: خلکو له مونځ وکړه، او بيا يې پاک روح له بدن څخه جدا شو، معاذ پورته شو او وې ويل: ای خلکو! تاسو ته د يو داسې چا درد دروړسيد چې ما له ده څخه ډير د سرې سينې، د شر څخه ليرې، دقيامت سره مينه کوونکې او د عامو خلکو خير غوښتونکی بل څوک نه دی ليدلی، نو په ده رحم وکړئ، الله به پر تاسو رحم وکړي.

عبد الله بن مسعود

**لومړی نفر چې د رسول الله ﷺ څخه وروسته يې په لوړ آواز قرآن لوستی**

" که د چا خوښه وي چې قرآن داسې تازه ولولي لکه چې نازل شوی دی نو د ام عبد د ځوي په طريقه دې ولولي "

[محمد رسول الله (ﷺ)]

په دغه ورځو کې هغه قوي هلک وو چې لا ځوانۍ ته رسيدلی نه وو، د خلکو څخه ليرې يې د مکې په درو کې ميږې څرولې، هغه د قريشو د يو مشر عقبه بن ابي معيط د ميږو ساتنه کوله، خلکو به ورته د «ام عبد» ځوي وايه خو خپل نوم يې عبد الله او د پلار نوم يې مسعود وو.

دغه هلک به د نبي (علیه السلام) په هکله خبرې اورېدې چې دده په قوم کې ښکاره شوی وو، خو یو طرف ته د کوچنیوالي او بل طرف ته د مکې د ټولني څخه د لیرې اوسیدو له امله یې ورته پاملرنه نه کوله، هغه به د خپل عادت سره سم سهار وختي د عقبه میرې د څرولو لپاره بیولې او د شپې له راتلو سره به راستنیده.

یوه ورځ دغه مکي هلک عبد الله بن مسعود دوه مشران سړي ولیدل چې د عزت نښې پرې ښکاره وې او له لیرې دده طرف ته راروان وو، ډیر سخت ستړي ښکاره کیدل، او د تندې له امله یې شونډې او ستوني وچ شوي وو.

کله چې هغوي دواړه د هلک خوا ته راورسیدل د سلام څخه وروسته یې ورته وویل:

هلکه! مونږ ته یوه ګډه ولوشه چې په شیدو یې تنده ماته کړو او رګونه پرې لانده کړو.

هلک وویل: زه دا کار نه شم کولای، میرې زما نه دي، زه یې یواځې ساتونکی یم.

سړو د هغه خبره بده ونه منله، او له مخونو یې د هغه څخه خوښي ښکاره شوه.

بیا ورته یو کس وویل: یوه داسې میره راوښایه چې تر اوسه یې حمل نه وي اخستی.

هلک یوې وړې میرې ته اشاره وکړه، سړی ورغی هغه یې وتړله، بیا یې ورته په غلانځه لاس کش کړ او د الله نوم یې پرې واخیست، هلک ډیر په حیرانتیا هغه ته کتل او په زړه کې وویل: وړه میره چې لا تر اوسه یې حمل هم نه دی اخستی څه رنګه شیدې ورکولای شي.

ډیر وخت به نه وو تیر چې د میرې غلانځه ډکه شوه او شیده ترې روان شو.

هغه بل سړي یوه ډبره تیره راواخیسته، له شیدو یې ډکه کړه، هغه او ملګري یې شیده وڅښل بیا یې ما ته هم راکړل، خو ما چې څه لیدل، ریښتیا مې نه ګڼل، کله چې ښه ماړه شول، هغه مبارک سړي د میرې غلانځې ته وویل: را غونډه شه، غلانځه تر هغې راغونډیده چې خپل ځای ته ورسیده، په دغه وخت کې هلک هغه مبارک سړي ته وویل:

دا تا چې څه وویل، ما ته یې هم وښایه، هغه را ته وویل: ته یو تعلیم یافته هلک یې.

دا د عبد الله بن مسعود د اسلام سره د تړاؤ د پیل قصه وه، ځکه هغه مبارک سړی د الله ستر پیغمبر (ﷺ) او ملګری یې ابو بکر صدیق (رضي الله عنه) وو، چې په دغه ورځ د قریشو د ډیر ظلم او د سختی له امله د مکې درو ته تللي وو.

څه رنګ چې د هلک د رسول الله (ﷺ) او د هغه د ملګري سره ډیره مینه وه او زړه یې پورې تړلی وو نو د الله ستر پیغمبر او د هغه ملګری هم ده هغه د امانت او بهادری څخه ډیر اغیزمن شوي وو او د خیر نښې یې په کې لیدلې وې.

لږ وخت وروسته عبد الله بن مسعود اسلام قبول کړ او د رسول الله (ﷺ) د خدمت لپاره یې ځان وړاندې کړ، رسو الله (ﷺ) هم هغه د خپل خدمت لپاره وټاکه، او هم له دغې ورځې څخه عبد الله بن مسعود د میرو د ساتنو څخه د انسانیت د سردار خدمت ته منتقل شو.

عبد الله بن مسعود لکه د سیورې د نبي (علیه السلام) سره ګرځیده، او د هغه سره یې په کور، سفر، دننه او بهر ملګرتیا کوله، له خوب څخه به یې راویښولو، د غسل په وخت کې به یې ورته پرده کوله، بهر ته د وتلو په وخت کې به یې ورته پیزار په خپو کول، او د

ننوتلو په وخت کې به يې ترې ويستل، امسا او مسواک به يې ورسره ګرځول او کوټې ته به د حفاظت لپاره د هغه څخه مخکې ننوتلو.

د الله پيغمبر هغه ته اجازه کړې وه چې هر وخت خوا ته ورتلای شي، او پرته له کومې ګناه او خفګان د هغه راز معلومولای شي، تر دې چې نوموړی د رسول الله (ﷺ) راز ساتونکی بلل کيده.

عبد الله بن مسعود د الله د پيغمبر په کور کې وپالل شو، د هغه د سيرت پيروي يې کوله او د هغه په اخلاقو يې ځان برابر کړ، او په هر کار کې به يې د هغه تابعداري کوله، تر دې چې ويل کيدل: «نوموړی رسول الله (ﷺ) ته په اخلاقو او صفاتو کې تر ټولو نږدې وو».

عبد الله بن مسعود د رسول الله (ﷺ) په مدرسه کې زده کړه وکړه، هغه تر ټولو صحابه کرامو دقرآن کريم ښه لوستونکی، د قرآن په معنا تر ټولو ښه پوهيدونکی او د الله په شريعت باندې تر ټولو ښه عالم وو.

د عبد الله بن مسعود په پوهه باندې تر ټولو ښه دليل د هغه سړي کيسه ده چې عمر (رضي الله عنه) ته راغی او نوموړی په عرفات کې ولاړ وو، سړي ورته وويل: ای د مسلمانانو اميره! زه له کوفې څخه راغلم او هلته مې داسې سړی پريخودو چې قرآن کريم يې له يادو څخه لوستلو، ددې خبرې په اوريدو عمر دومره غصه شو چې ډير لږ به غصه کيدو، تر دې چې له قهر ډک شو او ويې ويل: خوار شې هغه څوک دی؟

سړي ويل: هغه عبد الله بن مسعود دی.

د عمر غصه په سړيدو شوه تر دې چې خپل حال ته راوګرځيد، بيا يې وويل:
خوار شې زه په پاتې خلکو کې ددغې کار لپاره د نوموړي څخه بل څوک مستحق نه ګڼم، زه به تاته په دغه اړه يوه کيسه وکړم.
يوه شپه د الله پيغمبر (ﷺ) د ابو بکر سره د مسلمانانو د حالت په اړه خبرې کولې، زه هم ورسره ووم، بيا رسول الله (ﷺ) بهر ووته، مونږ هم ورسره ووتلو، يو سړی په مسجد کې ولاړ وو چې مونږ ونه پيژنده، رسول الله (ﷺ) ورته لږ ودريد، غوږ يې ورته کيخود، بيا يې مونږ ته وکتل او وې ويل: «که د چا خوښيږي چې قرآن تازه ولولي لکه چې نازل شوی دی، نو د ام عبد د ځوې په طريقه دې ولولي».
بيا عبد الله بن مسعود د دعا لپاره کيناست، رسول الله (ﷺ) وويل: «وغواړه در به کړل شي، وغواړه دربه کړل شي».
عمر (رضي الله عنه) وويل:
ما پخپل زړه کې وويل: په الله قسم! سهار به عبد الله بن مسعود ته ورځم او هغه ته به زيرې ورکووم چې رسول الله (ﷺ) ستا په دعا امين ويلی دی، زه چې سهار وختې هغه ته د زيرې ورکولو لپاره ورغلم نو ابوبکر (رضي الله عنه) زما څخه مخکې شوی وو.

په الله قسم چې ما د ابوبکر سره په کوم خير کې سيالي نه ده کړې، مګر هغه راڅخه مخکې شوی دی.

عبد الله بن مسعود د الله په کتاب دومره پوهيده چې ويل به يې:

«په هغه الله قسم چې د هغه پرته بل د عبادت لایق نشته چې د الله د کتاب هیڅ ایات نه دی ناز شوی، مګر زه پوهیږم چې چیرې نازل شوي او د څه په اړه نازل شوی، او که زه پوهه شم چې زما څخه پرته بل څوک په قرآن ډیر پوهیدونکی شته او رسیدل ورته ممکن وي نو زه به ورشم».

عبد الله بن مسعود د خپل ځان په اړه زیاته خبره نه ده کړې، په یو سفر کې عمر (رضي الله عنه) د شپې په توره تیاره کې د یوې قافلې سره مخ شو، چې عبد الله بن مسعود هم پکې وو، عمر یو سړي ته امر وکړ چې قافلې ته آواز وکړي چې څوک دي؟ عبد الله بن مسعود جواب ورکړ: د فج عمیق (ژورې ساحې) اوسیدونکي یو.

عمر وویل: چیرې تلل غواړئ؟

عبد الله وویل: بیت عتیق (پخواني کور) ته.

عمر وویل: په دوي کې کوم عالم شته، هغه سړي ته یې وویل: ورته ووایه چې د قرآن کومه برخه ډیره لویه ده؟ عبد الله جواب ورکړ:﴿ **الله لا إله إلا هو الحي القيوم لا تأخذه سِنَةٌ ولا نومُ ﴾.**

بیا یې ورته وویل: د قرآن کومه برخه ډیره فیصله کوونکې ده:

عبد الله وویل: **﴿ إن الله يأمر بالعدل والإحسان وإيتاء ذي القربى﴾.**

بیا عمر وویل: د قرآن کومه برخه ډیره جمع کوونکې ده؟

عبد الله جواب ورکړ:﴿ **فمن يعمل مثقال ذرة خيراً يره ۞ ومن يعمل مثقال ذرة شراً يره ﴾.**

بیا عمر پوښتنه وکړه: د قرآن کومه برخه ډیره ویرونکي ده؟

عبد الله وویل: **﴿ ليس بأمانيكم ولا أماني أهل الكتاب من يعمل سوءاً يجز به ولا يجد له من دون الله ولياً ولا نصيراً ﴾.**

عمر بیا پوښتنه وکړه: د قرآن کوم آیت ډیر هیله ورکونکی دی؟

عبد الله جواب ورکړ: **﴿ قل يا عبادي الذين أسرفوا على أنفسهم لا تقنطوا من رحمة الله إن الله يغفر الذنوب جميعاً إنه هو الغفور الرحيم ﴾.**

عمر وویل: آیا په تاسو کې عبد الله بن مسعود دی؟

هغوي وویل: هو

عبد الله بن مسعود یوازې قاري، عالم، عابد او زاهد نه وو، بلکه د اړتیا په وخت کې د قوت، فیصلې، جهاد او مخکې کیدو څښتن هم وو.

د هغه لپاره دومره بس دی چې د ځمکې په مخ لومړی نفر دی چې د رسوالله (ﷺ) څخه وروسته یې قرآن په لوړ آواز لوستلی دی.

یوه ورځ په مکه کې د رسول الله (ﷺ) ملګري په داسې حال کې رایوځای شول چې لږ او کمزوري وو او وې ویل:

په الله قسم! قریشو تر اوسه دا قرآن په لوړ آواز نه دی اوریدلی، داسې څوک به نه وي چې هغوي ته یې واوروي؟

عبد الله بن مسعود وویل: زه به یې ورته واوروم.

ملګرو یې وویل: مونږ پر تا ویریږو، مونږ داسې څوک غواړو چې قوم ولري تر څو د قریشو له شر څخه یې وساتي.

عبدالله بن مسعود وویل: ما پرېږدئ، الله به ما د هغوی له شر څخه وساتي.

بیا د څاښت په وخت کې جومات ته لاړ، تر دې چې مقام ابراهیم ته ورسید او قریش د کعبې چاپیره ناست وو، د مقام خواته ودرید او په لوړ آواز یې دا آیاتونه تلاوت کړل:

**﴿ بسم الله الرحمن الرحیم ـ الرحمن ۞ علم القرآن ۞ خلق الإنسان ۞ علمه البیان ﴾**

دا ایاتونه یې لوستل، قریشو فکر وکړ او وې ویل: د ام عبد ځوي څه شي وایې؟ هلاک دې شي دی خو هغه څه وایې چې محمد (ﷺ) راوړي دي.

بیا ورپاڅیدل او په مخ مخ یې وهلو او هغه قرآن لوستلو، بیا په داسې حال کې خپلو ملګرو ته ستون شو چې په مخ یې وینې بهیدلې، هغوی ورته وویل: مونږ په تا له هم دې ویریدو.

هغه وویل: په الله قسم! د الله دشمنان لدې مخکې زما په سترګو کې دومره سپک نه وو، که ستاسو خوښه وي سبا به دا کار بیا تکرار کړم، هغوي ورته وویل: نه ! بس دی، تا هغوی ته هغه څه واورول چې نه یې خوښیږي.

عبد الله بن مسعود د عثمان (رضي الله عنه) تر واکمنۍ پورې ژوندی وو، کله چې د مرګ په مرض مریض شو، عثمان یې پوښتنې ته راغی او ورته یې وویل:

له څه شي شکایت کوې؟، هغه وویل: له خپلو ګناهونو.

هغه ورته وویل: څه غواړې؟ جواب یې ورکړ: دخپل رب رحمت.

عثمان ورته وویل: هغه څه درنکړم چې له دوو کالو راهیسې دې نه دي اخیستي؟

عبد الله جواب ورکړ: اړتیا ورته نه لرم.

عثمان وویل: ستا لونه به ترې ګټه پورته کړي؟

هغه ورته وویل: ته زما په لونو له غریبۍ ویره لرې؟ ما هغوي ته حکم کړی دی چې هره شپه سورت واقعه ولولي، ځکه ما د رسول الله (ﷺ) څخه اوریدلي دي:

«چا چې هره شپه سورت واقعه ولوسته، هیڅکله به لوږه نه وررسیږي».

کله چې شپه راتله نو عبد الله بن مسعود په داسې حالت کې د الله سره پیوست شو چې ژبه یې د الله تعالی په ذکر او د هغه په آیاتونو ترو تازه وه.

د زبیر بن عوام په ګډون پرې ډیرو مسلمانانو د جنازې لمونځ وکړ او په بقیع کې خاورو ته وسپارل شو. په نوموړي دې د الله رحمتونه وي.

## سلمان الفارسي (رضي الله عنه)

### "كه ايمان په ثريا كي هم وي لدې خلكو څخه به يې يو څوك ترلاسه كړي "
### [ د سلمان په هكله د رسول الله (ﷺ) وينا ]

زمونږ دا كيسه د حقيقت د پلټونكي او د الله د لټونكي په هكله ده، د سلمان فارسي كيسه، الله دې ترې خوشحاله شي، راځئ چې دسلمان قصه پخپله له هغه څخه واورو، ځكه چې د دغې كيسي په اړه د سلمان احساسات ډير ژور او معلومات يې ډير دقيق او ريښتيني دي.

سلمان وايي:

زه د اسپهان د ښار د جيان نومي كلي يو ايرانی هلک ووم، زما پلار د كلي مشر، تر ټولو مالدار او د لوړې مرتبې څښتن وو.

زه د پيدائش څخه خپل پلار ته له هر چا ډير گران ووم، تر دې پورې چې د وخت په تيريدو سره يې زه له ويرې د جنكيانو په څير په كور كې بند كړم.

ما په مجوسيت (د اور عبادت) كې ډير زحمت گاله، تر دې چې زه د هغه اور څارونكی شوم چې مونږ يې عبادت كولو او ما ته د اور د بل ساتلو چارې وسپارل شوې تر څو په شپه او ورځ كې هيڅ وخت مړ نه شي.

زما د پلار ډيره ځمكه وه چې مونږ ته يې ښه ډيره غله دانه راتله، زما پلار به هغه سمبالوله او داني به يې ترې راوړې.

يوه ورځ د څه كار له امله كلي ته له تللو څخه پاتې شو، ما ته يې وويل: زه نن ځمكي ته نه شم تلای، ته لاړ شه او زما پر ځای يې نن ته څارنه وكړه، زه د ځمكې په طرف روان شوم، د لارې په يوې برخه كې د مسيحيانو په كليسا برابر شوم، ما د كليسا په منځ كې د هغوي د لمونځ آواز واوريد چې زما پاملرنه يې ځان ته واړوله.

ما د مسيحيت او نورو دينونو په اړه څه نه پيژندل ځكه زه پلار د نورو خلكو سره د ليدلو كتلو څخه په كور كې بند كړی ووم، نو كله چې ما د هغوي آوازونه واوريدل زه هلته ورغلم چې وگورم دوی څه كوي.

ما چې هغوي وليدل نو لمونځ يې خوند راكړ او دهغوي دين ته مې ليوالتيا پيدا شوه، او د ځان سره مې ويل:

په الله قسم! دا كار زمونږ له دين څخه ډير غوره دی، ما د لمر د پريوتو په وخت كې هغوي پريښودل او د پلار ځمكې ته لاړ نه شوم، ما ترې پوښتنه وكړه: زه به دا دين چيرې پيدا كړم؟.

هغوي راته وويل: په شام كې.

کله چې شپه شوه، کور ته راغلم، پلار مې راسره مخ شو او راته يې وويل: څه دې وکړل؟ ما ورته وويل: پلاره! په لاره کې ما داسې خلک وموندل چې په يوه کليسا کې يې لمونځ کولو، زما د هغوي دين ډېر خوښ شو او تر لمر پريوتو پورې له هغوي سره پاتې شوم.

پلار مې زما په کار خفه شو او راته يې وويل: بچيه! په دغه دين کې خير نشته، ستا لپاره دې د پلار او نيکه دين غوره دی.

ما وويل: په الله قسم داسې نه ده، د هغوي دين زمونږ له دين څخه غوره دی، پلار زما په خبرو ووريد چې هسې نه له خپل دين څخه واوړم، نو زه يې په کور کې بند کړم او په خپو کې يې راته زولنې واچولې.

کله چې ما ته فرصت برابر شو نو مسيحيانو ته مې جواب وليږلو چې که کومه داسې قافله برابره شي چې شام ته ځي نو ما خبر کړئ.

لږ وخت وروسته د شام طرف ته يوه تلونکې قافله د هغوي په خوا تيريده، زه يې خبر کړم نو ما په ځه چل زولنې له خپو ليرې کړې او په پټه د هغوی سره ووتم تر څو چې شام ته ورسيدو.

شام ته په رسيدو مې پوښتنه وکړه، په دې دين کې تر ټولو غوره څوک دی؟

هغوي راته وويل: د کليسا څارونکی، زه هغه ته راغلم او ورته مې وويل: زما د مسيحيت سره مينه پيدا شويده او غواړم ستا سره پاتې شم، خدمت دې وکړم، ستا څخه زده کړه وکړم او لمونځ درسره وکړم.

هغه راته وويل: راځه! زه ورسره لاړم، دهغه خدمت مې کولو.

لږ وخت وروسته مې معلومه کړه چې هغه ښه سړی نه وو، خپلو پيروانو ته يې د خيرات امر کولو، د ثوابونو په بيانولو يې خيرات ته هڅول، چا چې به د الله په لار کې د لګولو لپاره څه ورکړل نو هغه به يې ځانته جمع کول او غريبانو، فقيرانو ته به يې ترې هيڅ نه ورکول، تر دې چې د سرو اوه منګې ورسره جمع شول.

کله چې ما د هغه دا کار وليد، ډېر مې بد راغی، کله چې مړ شو نو مسيحيان د هغه د ښخولو لپاره راغلل، ما ورته وويل: ستاسو دا سړی خو ډېر بد سړی وو، تاسو ته به يې د خيرات امر کولو، تاسو به يې تشويقولې، خو بيا به يې ستاسو خيرات ځانته جمع کولو او غريبانو ته يې ترې هيڅ نه ورکول.

هغوي وويل: تا ته څه رنګ معلومه شوه؟

ما ورته وويل: زه به يې خزانه دروښايم.

هغوي وويل: راوښايه، ما ورته د خزانې ځای وښودو، هغوي له خزانې څخه اوه د سرو او سپينو څخه ډک منګې راويستل، کله يې چې دا وليدل، نو وې ويل: په الله قسم چې نه يې خښوو، بيا يې زوړند کړ او په کاڼو يې وويشت.

لږ وخت وروسته يې د هغه پر ځاي بل سړی وټاکه، زه د هغه سره ملګری شوم، دا سړی له دنيا څخه ډير بې پروا او د اخرت سره ډېر مينه کوونکی وو، شپه او ورځ به په عبادت کې

مشغول وو، زما ورسره ډيره مينه پيدا شوه، ډير وخت ورسره پاتې شوم، تر دې چې د مرگ وخت يې نږدې شو، ما ورته وويل:

اى فلانيه! ما ته د چا په هکله وصيت کوې، او د چا په اړه راته نصيحت کوې چې ستاسو ورسته ورسره ملگرى شم؟

هغه راته وويل: ځويه! زه په دې دين پرته له يو سړي ځخه بل ځوک نه پيژنم چې په موصل ښار کې دى، فلانى نوميږي او تر اوسه يې خپل دين نه دى بدل کړى نو د هغه خوا ته ځان ورسوه.

کله چې هغه مړ شو، زه د هغه سړي خوا ته لاړم چې په موصل کې وو، او خپله کيسه مې ورته وکړه، بيا مې هغه ته وويل: فلاني ما ته وصيت کړى وو چې د هغه د مرگ ځخه وروسته ستا سره ملگرتيا وکړم، ما ته يې ويلي وو چې ته د هغه په ځير په حقه يې.

هغه راته وويل: زما سره پاتې شه، زه د هغه سره اوسيدم نو دا مې هم په ښه حالت کې بيامونډ.

تر مرگه له هغه سره پاتې شوم، کله چې يې مرگ نږدې شو ما ورته وويل: اى فلانيه! تا ته د الله امر رارسيدلى او په هغه حال کې يې چې ته يې گورې، نو ما ته د چا په حق کې نصيحت کوې، او چا ته د تللو امر راته کوې؟

هغه راته ويل: بچيه! زه داسې نور ځوک نه پيژنم چې زمونږ په طريقه دې پاتې وي، پرته له يو سړي ځخه چې په نصيبين کې دى، او هغه فلانى دى نو ځان ورته ورسوه.

کله چې دغه سړى په قبر کې خخ کړل شو زه د نصيبين والا خوا ته لاړم او هغه ته مې ټوله خبره وکړه او دا مې هم ورته وويل چې هغه را ته ستا سره د يوځاي کيدو امر کړيدى، هغه راته وويل: زمونږ پاتې شه.

زه د هغه سره پاتې شوم نو هغه هم د خپلو ملگرو په شان ښه سړى وو، زه تر مرگه د هغه سره ووم، کله چې د هغه د مرگ وخت نږدې شو، ما ورته وويل: ته خو زما له حاله خبر شوې، نو ته ما ته د چا په اړه وصيت کوې؟

هغه راته وويل: اى بچيه! زه په هغه دين چې مونږ پرې يو پرته له يو سړي ځخه چې په عموريه کې دى، بل ځوک نه پيژنم، هغه فلاني دې د هغه خوا ته لاړ شه، زه هلته لاړم او هغه مې د خپله حاله خبر کړ، هغه راته وويل: زمونږ سره پاتې شه، زه ورسره پاتې شوم هغه هم د خپلو ملگر په طريقه روان وو، ما د هغه په خوا کې يو ځو غواگانې او بيزې هم پيدا کړې.

کله چې هغه هم په مرگ مريض شو نو ما ورته وويل: زما له حاله خو ته خبر يې، نو د خپل مرگ وروسته ما ته ځه امر کوې؟

هغه راته وويل: په الله قسم! زه د ځمکې په مخ داسې ځوک نه پيژنم چې زمونږ په طريقه پاتې وي، خو هغه وخت راسيدلى دى چې د عربو په خاوره کې به يو پيغمبر پيدا شي چې د ابراهيم په دين به وي، بيا به هغه له خپله ځايه داسې ځاى ته هجرت وکړي چې د دوه تورو تيږو لرونکو ځايونو تر منځ به وي او خرما به لري، او هغه به داسې نخې لري چه پټې به نه وي.

هدیه به خوري، صدقه به نه خوري، او د دواړه اوږو تر منځ به یې د پیغمبرۍ مهر وي، که دغه ځاي ته د تللو توان لرې نو لاړ شه.

د هغه د مرګ څخه وروسته زه په عموریه کې پاتې شوم تر دې چې د بنو کلب د عربو سوداګرو یو قافله له دغه ځایه تیریده، ما هغوی ته وویل: که ما د ځان سره د عربو خاورې ته بوځئ نو زه به خپلې غواګانې او بیزې درکړم، هغوي وویل:

سمه ده بوځو دې، ما ورته غوا، بیزې ورکړې او د ځان سره یې روان کړم، کله چې وادی القرا ته ورسیدو، خیانت یې راسره وکړ او په یو یهودي سړي یې خرڅ کړم، او پدې توګه زه د هغه خدمتګار شوم.

بیا لږ وخت وروسته زه د هغه د تره ځوي زراره چې د بنو قریظه سره یې تړاؤ وو واخستم او یثرب ته یې بوتلم، هلته ما هغه خرما ولیدې چې د عموریې سړي یې ما ته نخې ښودلې وې، ما مدینه له نخو نښانو وپیژندله او هلته له هغه سره پاتې شوم.

نبي (علیه السلام) په دغه وخت کې په مکه کې خپل قوم اسلام ته رابللو، ما د غلامۍ د مصروفیتونو له امله د هغه په اړه هیڅ هم نه وو اوریدلي.

کله چې نبي (علیه السلام) یثرب ته هجرت وکړ، نو ما د خپل مالک د یوې خرما په سر کې کار کولو او زما مالک د خرما لاندې ناست وو چې پدې کې د هغه د تره ځوي راغی او ورته یې وویل: بنو قیله (اوس، خزرج) دې هلاک شي، هغوي اوس په قباء کې یو سړي ته راجمع شویدي چې له مکې څخه نن راغلی او ځانته پیغمبر وایي.

ما چې دا خبره واوریده نو داسې شوم لکه تبه چې راباندې راغلې وي او ورپیدم تر دې چې نږدې وه په خپل مالک له پاسه راوغورزیږم، زر له ونې راښکته شوم او سړي ته مې وویل: دا خبره ما ته بیا وکړه.

مالک مې سخت په قهر شو او یوه څپیړه یې ووهلم، او راته یې وویل: ستا یې څه؟ ځه خپل کار کوه.

ماښام مې له جمع شوو خرماؤ څخه یو څه واخیستل او د رسول الله (ﷺ) خوا ته لاړم، ما ورته وویل: زه خبر شوی یم چې ته ښه سړی یې او ستا سره غریب او اړمن ملګرې دي، زما سره دا یو څه صدقه ده او زما په نظر تاسو یې ډیر حقدار یې، بیا مې هغه خرما ورنږدې کړې، هغه خپلو ملګرو ته وویل: وخورئ، او خپل لاسونه یې له خوراک څخه راټول کړل.

ما په زړه کې وویل: دا خو یوه نخه شوه.

زه لاړم او د یو څه خرما په راټولولو مې پیل وکړ، کله چې رسول الله (ﷺ) د قباء څخه مدینې ته لاړ، زه ورغلم او ورته مې وویل: ما ولیدل چې تاسو صدقه نه خورئ، نو دا ستاسو د احترام په خاطر تاسو ته ډالۍ ده، نو له هغې څخه یې پخپله هم خوراک وکړ او ملګرو ته یې هم د خوراک امر وکړ.

د ځان سره مې وویل: دا دوهمه نخه شوه.

زه بيا رسول الله (ﷺ) ته راغلم، هغه په بقيع الغرقد کې خپل يو ملګری خخولو، هغه ناست وو، او دوه ځادرې يې په تن وې، ما پرې سلام وکړ او بيا شا ته راتاؤ شوم پدې خيال که هغه مهر وګورم چې د عمورېې سرې را ته ويلي وو.

کله چې نبي (عليه السلام) زه وليدم چې د هغه شا ته ګورم، نو زما په هدف پوهه شو، له خپلې شا يې ځادر لرې کړ، ما هغه مهر وليد او ومې پيژندلو، پرې راښکته شوم، ښکل مې کړ او ژړل مې.

رسو الله (ﷺ) راته وويل: څه خبره ده؟

ما ورته خپله ټوله قصه وکړه، ډير تعجب يې وکړ او خوښه يې کړه چې د هغه ملګري يې هم له ما څخه واوري، ما هغوي ته خپله قصه وکړه، ټولو ډير تعجب وکړ او ډير خوشحاله شول.

په سلمان فارسي دې سلام وي چې په هر ځاي کې يې د حق د لټولو کوشش وکړ، او په هغه دې سلام وي چې کله يې حق بياموند، کلک ايمان يې پرې راوړ، او په هغه دې دمرګ او د مرګ څخه وروسته هم سلام وي.